لړ لیک د عنوانونو فهرست

د هوپو د کتابونو د لړې پېژندنه 1

د دې کیسې موخه 1

دا لارښود څنګه له تاسې سره مرسته کولای شي 2

په ټولګي کې د کیسو د کارولو لپاره درسي پلانونه 3

"جادویي آس" د کیسې درسي پلان 4

لومړۍ ورځ: د کیسې لومړۍ لوستنه - لومړۍ برخه 4

د کیسې لومړۍ برخې لوستلو پر مهال وړاندوینې کول 4

د لوستنیزو او لیکنیزو مهارتونو لوړاوی- لومړۍ ورځ 6

د لغوي فعالیتونو رامنځ ته کول (د کیسې لومړۍ برخې لپاره د الفبا لغتونو لیست) 6

د کیسې دوهمې برخې وړاندوینه کول 8

دوهمه ورځ: د کیسې دوهمه لوستنه - دوهمه برخه 10

رایادول او د کیسې دوهمې برخې لپاره وړاندوینې کول 10

د کیسې دوهمې برخې لوستل 10

د لوستنیزو او لیکنیزو مهارتونو لوړاوی- دوهمه ورځ 11

د لغوي فعالیتونو رامنځ ته کول (برخې/ وینا برخو لپاره د الفبا لغتونو - لیست د کیسې دوهم) 11

درېیمه ورځ: د کیسې دوهم لوستل 14

د مهمو مفکورو معلومول - نتیجه اخیستل 14

څلورمه ورځ: د مهمو مفکورو لپاره د کیسې بیا څېړل 16

په کیسه کې د پېښو تنظیمول 17

د کیسې کلیدي مفکورو باره کې فکر کول او لیکل 19

د مهمو مفکورو معلومول - د ټاکنو باره کې فکر کول 19

پنځمه ورځ: د مهمو مفکورو لپاره د کیسې بیا څېړل - دوهمه برخه 21

د مهمو مفکورو معلومول - خپلې ټاکنې کول 22

شپږمه ورځ: آزاده مطالعه 24

په لوړ غږ د کیسې لوستنه 25

د نورو مهمو مفکورو معلومول 25

اوومه او اتمه ورځ: د ټولګي یا کور نور فعالیتونه 26

الف: کښنه (رسم) او نکل کول 26

ب: د کیسې په اړه لیکل 28

ت: په څانګړې ادا د کیسې لوستنه 30

د: د نندارې (تمثیل) په بڼه د کیسې وړاندې کول 31

له کورنۍ سره د کیسې شریکول 33

له کورونو د کیسو راټولول 33

همدارازپه دې لارښود کې:

د ی‌و ساده کتاب د جوړولو لارښوونه

د زده کوونکو د پرمختګ د ارزونې چارټ

د ټولګي د پرمختګ د ارزونې چارټ

آغلې ډاکټر ډینس نیسل د انساني علومو د مطالعاتو په انسټیټیوټ د لومړۍ زده کړې رئیسه او هغه پر اغېزمن تدریس ورکشاپونه او سیمنارونه دایروي. نومورې د ګڼو ښوونیزه سلاکاره او آسانګره پاتې شوې. دغه راز د تدریس د میتودونو په اړه د ۱۰ کتابونو، او د سوادزده کړې په اړه د ګڼو مقالو لیکواله ده، او په دې سربېره د "څوانو ذهنونو د راویښونې"Awakening Young Minds" او "From Dubs to Marbles" د زده کړه ییزو کتابونو سمونګره هم ده.

کله چې تاسې ته کتاب ورسېد...

دلته په دې لارښود کې ډېر مهم فعالیتونه دي چې تاسې یې یوازې په کتاب ترسره کولای شئ. کله چې دا کتاب ټولګي ته د چمتو کېدو لپاره ولولئ، تاسې هغه فعالیتونه غوره کړئ کوم چې تاسې یې ستاسې سره د شته موادو په وسیله تر سره کولای شئ.

پدې لارښود کې تاسې او ستاسې زده کوونکي د لیک او رسامۍ لپاره د خپلو کتابونو جوړول زده کولای شي. که تاسې د خپلو زده کوونکو لپاره راغونډوونکي (کمپوز) کتابونه نه لرئ، نو هغوی د دې پر کارولو په ټولګیو او کورونو کې د لیکنو تمرینونو له لارې خپل د لیکنې مهارتونه ښه کولای شي.

د هوپو د کتابونو د سلسلې پېژندنه



دغه کیسې له پېړیو پېړیو راهیسې په افغانستان او منځنۍ آسیا کې د خلکو پر ژبو دي. ښایې تاسې، یا ستاسې د کورنۍ کوم غړي به، له یوې یا دوو دغه ډول کیسو سره له وړاندې بلد یاست. دا کیسې یوازې دتفریح لپاره نه دي، بلکې داسې کښل (طرحه) شوي چې له موږ‌تاسې سره د خپلو ځانونو او خپلې نړۍ په پېژندلو کې مرسته کوي. کله چې ښوونځي کم وي، له نکلونو څخه د زده کړې د وسیلې په توګه کار اخلو.

د پغمان اوسېدونکی ادریس شاه، پوره دېرش کاله عمر له دې فرهنګي میراث څخه د لویانو او ماشومانو لپاره د کیسو په راټولولو، غوراوي، او ژباړلو تېر کړی دی. هغه د هوپو د کیسو د لړۍ لیکوال دی. دغه کیسې اوس په ټوله نړۍ کې خلک لولي او خوښوي یې.

ماشومان له دې کیسو څخه د خپلې پوهې د کچې او وس مطابق ګټه اخلي. ښایي ماشوم په سر کې د کیسې له یوازې یوې څېرې یا پېښې سره بلد شي، او ښایي تر ټولو څرګنده معنا یې درک کړای شي، خو له هرځل لوستلو سره ترې نورځه زده کوي، او ورو ورو ورځخه نوري معناګاني، نظریې او بصیرتونه لاس ته راوړي.

د دې کیسو په تکراري اورېدلو ماشومان له خپل ژوند سره بلدتیا زده کوي، او په ښلابښلو حالاتو کې د خلکو د سوچ او غبرګون په اړه فکر کولو ته مجبوریږي. دغه نکلونه له ماشومانو سره د سوچ او کار د اغېزمنو او نااغېزمنو بڼو او طریقو ترمنځ په توپیر کولو کې مرسته کوي. دغه کیسې ماشومانو ته په ځان باور، پر غیرمنطقي وېرو (ډارونو) د برلاسي وړتیا، او د تاوتریخوالیزې (متشدده) مقابلې پر ځای د سوله ییز تفاهم خپلولو د لارو چارو پر شمول نورې دېرې غوره بېلګې ورښیي.

د دې کیسو موخه

تاسې به په ټولګیو کې د هوپو د کیسو په کارولو سره ګڼې لاسته راوړنې ولرئ. تاسې به:

- زده کوونکي وهڅوی چې د افغانستان د شتمن کلتور په قدر پوه او خوند ترې واخلي کوم چې یو نسل نه بل نسل ته پاتې دي؛
- ماشومان دې ته وهڅوئ چې د افغانستان د نکلونو، چې له پښتونو (نسلونو) راهیسې د خلکو پر ژبو دي، قدر وکړي، او خوند ترې واخلي؛
- د کیسې ژبنې جوړښتونه او کلمې داسې وکاروئ چې له ماشومانو سره به د ژبې په اغېزمنه کارونه کې مرسته وکړي؛
- ماشومانو ته د دې فرصت ور کړئ چې د کیسې د مطالبو په اړه داسې فکر وکړي چې د هغوی د ژوند په بډاینه کې ورسره مرسته وکړي؛
- د دې ادبي ټوټو د ګډې لوستنې له لارې له زده کوونکیو سره خپلې اړیکې غښتلي کړئ؛
- ماشومانو ته داسې لارې وروښایاست چې کیسې له خپلو کورنیو سره ګډې کړي؛
- زده کوونکی به پخپله قصه ویونکی شي، او د افغانستان د قصې ویلو دود به بیا راژوندی کړي.

دا لارښود څنګه له تاسې سره مرسته کولای شي

ویل، لوستل، لیکل او فکر کول ټول یو د بل سره تړلي دي. موږ باید د زده کوونکو سره مرسته وکړو چې دا هر مهارت په دوی کې وده وکړي چې په نتیجه کې دوی ښه لیکونکي او لوستونکي شي.

چون د زده کړې په ځینو برخو کې د حفظ کولو له پاره ځای شته، کله چې زده کوونکی د معلوماتو له پاره د حفط کولو طریقه استعمالوي دوی ته اکثراً د دې زمینه نه وي برابره چې د دې ټول بهیر په اړه فکر وکړي چې دوی ګنې حفظ کوي. زده کوونکو ته د دې درس ورکول چې وړاندوینه وکړای شي، د داسې سوالونو پوښتنه او ځواب چې کوم سم ځواب و نه لري، له دوی سره مرسته کوي چې زده کړې او د لوړې سویې فکر کولو مهارت سره یې مینه پیدا شي لکه جدي، منطقي، تحلیلي، استنباطي او مقایسوي فکرونه. زده کوونکي هڅوي چې خپل فکر څرګند کړي او په قصه مباحثه کول د دوی فکر تنبهه کوي او له دوی سره مرسته کوي چې ولولي او ولیکي.

دا قصې د پیړیو لرغونتوب لري چې له یو کس نه بل کس ته له نسلونو په ټول افغانستان کې تکرار شوي دي. په دې طریقه، د پوهې او تکرار له لارې، د دوی تازه بصیرت هڅول کیږي او د خلکو په وړاندې فکر کولو کې یې انعطاف رامنځ ته کېږي. د دې پخوانیو قصو په ویلو او زموږ د قصې ویلو غني دود د درلودلو له کبله به موږ ټول مستفید شو.

دا لارښود، د هوپو د کیسو د لړۍ د یوې کیسې د صنفي استعمال لپاره تاسې ته ګام په ګام درسي پلانونه درکوي. که لاندې ټکي په پام کې وساتئ نو زده کوونکي به له دې کیسو څخه ډېر څه ترلاسه کړي:

- د دې لپاره چې زده کوونکي له کیسې سره بلد شي، او پخپله د کیسې تر لوستلو وړاندې د هغې پر معناګانو پوه شي، هغوی باید دا کیسې څو څو ځله واوري. دا لارښود به زده کوونکیو ته د کیسې د لوستلو، بیا پر هغوی د کیسې د لوستلو، او بالآخره، د زده کوونکیو ترمنځ په خپلو کې د کیسو د لوستلو په اړه ځینو مهمو ټکیو ته ستاسې پام ور واړوي.
- زده کوونکي به هله په دې کیسه ښه پوه شي، او ذهن ته به یې وسپاري چې له تاسې او خپلو نورو ټولګیوالو سره پرې بحث وکړي، او د کیسې پېښو ته له خپلو تجربو سره تړاو ورکړي. دا لارښود به په بحث کې د زده کوونکیو د راښکېلولو (شاملولو) د لارو چارو په اړه مشورې درکړي، چې زده کوونکي په خپل تعبیر هغه معناګانې بیان کړای شي چې کیسې یې د دوی لپاره لري.
- زده کوونکي به هغه وخت له کیسو ښه خوند واخیستلای شي چې په زړه پورې توګه د کیسو پېښو ته غبرګون وښیي، لکه دا چې د کیسې صحنې رسم کړي، کیسه بل چا ته ووایي، د کیسې صحنې تمثیل کړي، او د کیسې په اړه لیکنې وکړي. دا لارښود به د هغو خوندورو فعالیتونو د اجراء په اړه، چې له کیسې سره تړاو لري، معلومات درکړي.
- زده کوونکي له دې کیسو څخه بېلابېل لوستنیز اوژبني مهارتونه زده کوي، چې له هغوی سره د هغوی د سواد په لوړاوي کې مرسته کوي. دا لارښود به د لوستنیزو او لیکنیزو مهارتونو د ښوونې په اړه معلومات درکړي. ځینې فعالیتونه له نورو څخه ډېر پرمختللي دي. تاسې هغه فعالیتونه غوره کولای شئ کوم چې ستاسې د زده کوونکو لپاره ډېر مناسب وي.

- که شاګردان هغه څه چې زده کوي، له خپلو کورنیو سره شریک کړي، نو له کیسې به لا ډېر خوند واخلي. دا لارښود به د ماشومانو لخوا له کورنیو سره د زده کړو او کیسو د شریکولو لارې چارې در وښیي.

اندازه کول او ارزونه

د ښوونکي په صفت، تاسې به ضرورت ولرئ چې د هر مهارت په اړه چې تاسې ورته درس ورکوئ، د هر زده کوونکي پرمختګ اندازه او وارزوئ. د انکشاف یا پرمختګ چارټونه به له تاسې سره مرسته وکړي چې دا داسې وکړئ. د دې لارښوود په اخر کې ځینې چارټونه شته دی چې تاسې یې د زده کوونکو د پرمختګ د ثبتولو لپاره له سره جوړولای شئ: یو **د زده کوونکو د پرمختګ د ارزونې چارټ** چې تاسې به ورته د هر زده کوونکي لپاره ضرورت ولرئ، یو د **د ټولګي د پرمختګ د ارزونې چارټ** چې تاسې سره به مرسته وکړي چې د ټول ټولګي پرمختګ په کې ثبت کړئ. په لارښوود کې د هر فعالیت وروسته، د **مهارت د پرمختګ د اندازه کولو** د نمرې ورکولو آله هم شته چې ستاسې سره مرسته کوي چې د زده کوونکو پرمختګ وټاکئ یا یې اندازه کړئ.

په دې چارټونو کار کول داسې دي لکه تاسې چې زده کوونکي هڅوئ چې په صنفي فعالیتونو کې برخمن شي، او ځان ډاډه کړئ چې د هر فعالیت د بشپړولو په پای کې د ورځې په اخر کې دا چارټ د هر زده کوونکي لپاره ډک کړئ. نو په دې ډول به تاسې هغه زده کوونکي چې نورې مرستې او هڅونې ته اړه لري وپیژنئ. دا د پرمختګ چارټونه د کتاب او د ټولو فعالیتونو د بشپړیدو پورې له ځان سره په یو خوندي ځای کې وساتئ.

کله چې تاسې او زده کوونکو مو د دې کتاب استعمال بشپړ کړ، د هر زده کوونکي په پرمختګ مرور وکړئ، د هغوی معلومات له پرمختګ چارټ څخه د ارزونې راپور ته کوم چې خپل رییس ته استوئ، منتقل کړئ.

په ټولګي کې د کیسو د کارولو لپاره درسي پلانونه

لاندنې ګام په ګام وېشلي درسي پلانونه د ورځو پر اساس تنظیم شوي، داسې چې "لومړۍ ورځ" یې هماغه ورځ وي چې کیسه صنف ته ور پېژنئ. تاسې باید، که ممکنه وي، د اړوند درسي پلان ټول ګامونه، پر اړونده ورځ په صنف کې پلي کړئ. دا به تر ټولو ښه وي چې له یوې تر څلورمې ورځې پلانونه په همدې ترتیب سره پلي شي ځکه دا فعالیتونه په دا ډول برابر شوي تر څو زده کوونکي ته واک ورکړي چې څه یې زده کړي وي پر هغې خپلې پوهې ته نوره هم وده ورکړي او د لوست او لیکنې مهم مهارتونه زده کړي. له پنځمې تر اوومې ورځې فعالیتونه ستاسې د ټولګي له مهالویش سره سم عیاریدلی شي.

د لومړۍ او دوهمه ورځ د لغتونو فعالیتونه باید د زده کوونکو د اړتیاوو پر لیدلو څو ورځې اجرا شي، یا ممکن پرمختللیو زده کوونکو ته یې هیڅ تدریس نه کړئ. تاسې ښایي د درس لپاره د تیاري په منظور د ځینې کارونو ترسره کولو ته اړتیا ولرئ. د یوه درس تر تدریس یوه یا دوه ورځې وړاندې درسي پلان ولولئ، چې د پلان پر مرحلو او ګامونو پوه شئ. تر "د درس لپاره تیاری" سرلیک لاندې مشورې ولولئ، چې د اړینو تیارياتو په هکله معلومات ترلاسه کړئ.

درسي پلان
جادويي آس

لومړۍ ورځ: د کيسې لومړۍ لوستنه

کله چې له دمې او زده کوونکو سره له غږيدا پرته دا کيسه دوامداره ولوستل شي نو ۲۶ دقيقې وخت نيسي. د دې لپاره چې بحث لپاره يو څه وخت ولرو پداسې حال کې چې له لوستلو وروسته کيسه د زده کوونکو په ذهن کې تازه وي، مونږ بهتره ګڼو چې د ټولې کيسې لوستل بايد په دوه برخو وويشلې او په دوه ورځو کې ولوستل شي.

د لومړۍ ورځې لوستلو ختمولو لپاره تر ټولو ښه ځای د ۱۹ پاڼې پای کې د "همداسې اس په الماري کې کيښودل شو" جمله ده.

درس ته تيارى

- ټوله کيسه له وخته وړاندې ولولئ او ځان ورسره بلد کړئ.

- د کيسې لومړۍ برخه مخکې لدې چې خپلو زده کوونکو ته ولولئ له ځان سره په لوړ غږ څو ځل تمرين کړئ تر څو له کيسې سره بلد او په آسانه يې ولوستلى شئ. کيسه په ځانګړي وزم او ادا ولولئ! کوښښ و کړئ چې د مختلفو کرکترونو لپاره مختلف آوازونه استعمال کړ ئ. کله چې کيسه په ښه طريقه ولولئ نو په حقيقت کې زده کوونکيو ته دا ښياست چې کيسه بيا په خپل وار څنګه ولولي.

- د کيسې تر لوستلو وړاندې، په کيسه کې درې يا څلور داسې ځايونه په نښه کړئ چې هلته وقفه وکړئ، او شاګردانو ته د دې فرصت ورکړئ چې د کيسې د راتلونکيو پېښو وړاندوينه (پيشبيني) وکړي. له زده کوونکيو د داسې وړاندوينو غوښتنه (په داسې حال کې چې نه پوهېږي چې وړاندې به څه کېږي)، د هغوی د سوچ کولو د وړتيا د لوړاوي يوه ډېره ښه لاره ده. دغه راز، دا چاره د هغوی د کيسې اورېدنې هدف روښانه کوي. د هغوی هدف دادی چې پوه شي چې آيا وړاندوينې يې سمې دي، او که ناسمې! د کيسې په منځ کې د وقفې لپاره ښه ځای هماغه دی چې هلته د راتلونکې پېښې په اړه تلوسه (اضطراب) موجود وي.

- د کيسې د لومړۍ برخې لپاره د لغوي فعاليتونو برخه ولولئ او د الفبا لغتونو ليست لپاره توکي تيار ولرئ.

لومړی لوستل: د کيسې لومړۍ برخې لوستلو پر مهال وړاندوينې کول

۱. کتاب داسې پورته ونيسئ چې شاګردان يې پوښ وليدلای شي. د دې لپاره چې شاګردان د کتاب پوښ له نيږدې وليدلای شي، کولای شئ د شاګردانو ترمنځ تګ راتګ وکړئ. د کتاب له ښودلو سره يوځای، کتاب ور وپېژنئ، او د کيسې او ليکوال په اړه يې لږ څه معلومات ورکړئ. داسې څه ووايئ:

دا کیسه له څو څو کلونو راهیسې په افغانستان او شاوخوا سیمو کې ویل شوې ده. ځینې خلک ورته "ښوونیزه کیسه" وایي، ځکه چې تاسې د دې کیسې په لوستلو، او د هغې په اړه په فکر کولو سره، چې مورږ یې دلته کوو، د ځان او نورو په اړه څه زده کولای شو.

د دې کیسې ګڼې نسخې موجودې دي. د دې نسخې لیکوال ادریس شاه دی. هغه د پغمان ولسوالۍ یو پوه سړی وو. هغه په خپل ژوند کې، د لویانو او وړوکیو (کوچنیانو یا ماشومانو) لپاره ګڼ کتابونه لیکلي.

په دې دوه ورځو کې به زه تاسې ته کیسه ولولم. زه به یې لومړۍ برخه نن ولولم. اوس زه تاسې ته کیسه لولم. ښه غوږ ونیسئ، او زما له لوستلو سره یوځای انځورونو ته هم ګورئ. زه به کله کله وقفه کوم، او له تاسې به پوښتنه کوم چې تاسې څه فکر کوئ وړاندې به څه وشي. خو تاسې کولای شئ د کیسې اوږدلې برخې ته په کتنې سره یوځه و انګېرئ (له ځانه یو څه ووایاست). ښه غوږ ونیسئ، چې بیا وروسته د پاتې کیسې په اړه ښې انګېرنې وکړای شئ!

کله چې مې ختمه کړه، زه به تاسې ته یو ځل بیا انځورونه وښایم او تاسې ویلای شئ چې په ښه شوي ځای باره کې درته د کیسې له لومړۍ برخې څه یاد دي. ورپسې به مورږ فکر وکړو چې په پاتې کیسه کې څه پېښیدای شي.

اوس راځئ چې د کیسې ویل پیل کړو...

۲. کتاب پرانیزئ، او مخ یې زده کوونکیو ته ور واړوئ، ترڅو د لوست د دایرې ټول زده کوونکي ستاسې له لوستلو سره یوځای پر پاڼو باندې انځورونه ولیدلای شي. کیسه ورو ورو او په وزم او ادا لولئ، او د پاڼې تر اړولو وړاندې لږه وقفه کوئ، چې زده کوونکیو ته د اوږدلې برخې په اړه د فکر کولو، او انځورونو د لیدلو فرصت ورکړئ. کولای شئ په ټولګي کې وګرځئ را وګرځئ، چې شاګردانو ته له نیږدې څخه د انځورونو لیدلو فرصت ورکړئ. (تاسې ممکن په ټولګي کې وګرځئ تر څو هر زده کوونکی له نږدې وګوري چې کوم ځای لولئ مخکې لدې چې پاڼه واړوئ.)

۳. هرځل چې له زده کوونکیو څخه د وړاندوینو د اوږدلو لپاره وقفه کوئ نو لاندې پوښتنې وکړئ:

څه فکر کوئ چې په کیسه کې به وړاندې څه وشي؟

ولې فکر کوئ داسې به وشي؟ د کیسې کومه برخه په دې دلالت کوي چې داسې به وشي؟

د ټولګي په ډول، کله چې ممکن باچا د په زړه پورو او ګټورو توکو سیالي اعلان کړي، له زده کوونکو وپوښتئ:

څه فکر کوئ په سیالۍ کې به څه وشي؟ څوک به یې وګټي؟ کله چې زده کوونکي خپل نظرونه ورکړي، وپوښتئ: *ولې داسې فکر کوئ؟*

زده کوونکیو ته ووایاست چې د ټولو وړاندوینې سمې دي، ځکه چې هغوی ښه فکر کړی، او دا چې د راتلونکیو پېښو په اړه د هغوی د وړاندوینو اختلاف پر ځای خبره ده. له ټولټبلو زده کوونکیو غوښتنه وکړئ چې وړاندوینې وکړي. کله چې یو زده کوونکی یو نظر وړاندې کوي، نو له نورو زده کوونکیو پوښتنه وکړئ چې آیا دا نظر سم دی، او که ناسم، او له هغوی

څخه دليل هم وغواړئ. زده کوونکي د بحث لپاره د نظرياتو وړاندې کولو ته وهڅوئ. د دې لپاره چې ګټو زده کوونکيو ته د وړاندوينو فرصت ورکړئ، او ټولګيوال ښه بحث وکړای شي، خبرو اترو ته کافي وخت ورکړئ. او بيا د راتلونکيو تم-تکيو(وقفه ځايونو) پر لور لوست ته دوام ورکړئ.

۴. کله چې مو د کتاب لومړۍ برخه پای ته ورسوله (تر ۱۹ پاڼې)، زده کوونکيو ته د اورېدلو او د پېښو د وړاندوينو شاباسی ورکړئ او اوس له هغوی غواړئ چې تر اوسه لوستل شوې کيسه بيا وځيړي.

۵. کتاب بيا پرانيزئ، کيسه پيل کړئ، او لوړ يې ونيسئ چې زده کوونکي يې انځورونه وليدلای شي. له زده کوونکيو څخه غوښتنه وکړئ چې هغو لومړنيو انځورونو ته وګوري، او ور په ياد کړي چې د کيسې په پيل پيل کې څه شوي وو. زده کوونکيو ته د کيسې د ور په زړه کولو لپاره لاندې پوښتنې وکاروئ:

دلته ښودل شوې څېرې څوک دي؟

د کيسې په دې برخه کې څه کېږي؟

۶. بيا د کتاب وړاندې مخونه را واړوئ او همدغه پوښتنې تکرار کړئ. همداسې په لومړۍ برخه کې چې اوس مو ولوسته پرمخ ولاړ شئ، چې له زده کوونکيو غوښتنه کوئ انځورونو ته په کتنه تېره کيسه ورپه زړه کړئ، کيسې ته دوام ورکړئ. هرځل له يوه نوي زده کوونکي څخه پوښتنه کوئ، چې هر زده کوونکی د خبرو وار ترلاسه کړي. که له زده کوونکيو څخه د کيسې ځينې برخې هېرې وي، نو د کيسې هماغه برخه په خپلو الفاظو وريادە کړئ، او ياهماغه برخه له سره ورته ولولئ.

۷. د کيسې په ښه اورېدا، او د کيسې د ډېرې برخې په ياد ساتلو د شاګردانو ستاينه کوئ. ورته ووايئ چې تاسې به د کيسې دوهمه برخه په بل درس کې ولولئ او بيا به پرې غږيږئ.

د لوستنيزو او وينيزو مهارتونو لوړاوی – لومړۍ ورځ

زده کوونکي ميلان لري چې يو ډول لغتونه په وينا او ليکنه کې بيا بيا وکاروي. د الفبا ليست يوه ښه لار ده چې زده کوونکي وهڅوي تر څو نوي لغتونه زده او د يو ډول لغتونو تکراري استعمال څخه ډډه وکړي. زده کوونکي به ډېرو لغتونو ته لاسرسی ولري که چيرې دوی خپل لغتونه د الفبا په ليستونو کې تنظيم کړي. تاسې او ستاسې زده کوونکي د ټولګي لغتونو ليست پر چارټ پاڼه جوړولې او د فعاليتونو پر مهال پرې نور لغتونه ورډېرولی شي. لدې پرته، زده کوونکي کولای شي خپل د الفبا لغتونو ليست د کمپوزيشن په خپل کتابونو کې ولري.

له يو څه وخت وروسته، دوی د دې ټولو لغتونو "ملکيت" احساسوي. د الفبا جوړښت کارول زده کوونکي ننګوي، او د هغوی لپاره د خپلو لغتونو تنظيمولو يوه ښه لار ده. دې ليست کې به زده کوونکي د کيسې لغتونه وليکي، کله چې دوی کيسه لولي.

د لغوي فعاليتونو رامنځ ته کول - لومړۍ برخه

درس ته تياری

- يوه چارټ پاڼه پر تخته راوځړوئ او په دوه عمودي کرښو کې الفبا وليکئ، د ټکو تر منځ مناسب ځای پرېږدئ تر څو پکې لغتونه وليکلای شئ (پدې برخه کې يې بيلګه ووينئ). پاڼه دومره راټيټه ځوړنده کړئ تر څو زده کوونکي پرې ليکل وکړای شي. همداسې کولای شئ، په دوه عمودي کرښو کې پر تخته هم د زده کوونکو لاسرسی سره مناسب د الفبا توري وليکئ.

- باوري کړئ چې هر زده کوونکی د دې فعالیت او کورنۍ کار لپاره کتاب، د هغوی د کمپوزیشن کتاب (یا کرښې لرونکی پاڼه) او پنسل ولري. (ددې کتاب شا وګورئ د لارښونې لپاره چې څنګه زده کونکی یو ساده کتاب جوړ کړی او کار ترینه واخلی.)

- د لغوي فعالیتونو ارزونه په دوهمه ورځ د لومړۍ برخې له ټولې لوستنې وروسته موندل کیدای شي.

زده کوونکو ته ووایاست چې دوی به د "جادویي آس" په کیسه کې نوو زده کیدونکو لغتونو لیسټ جوړوي. دوی به وکولای شي چې وروسته لدې لیسټ څخه د خپلو زده کړو او لیکنو په تمرینونو کې ګټه واخلي. (که زده کوونکو د بل کتاب لپاره د الفبا لغتونو لیسټ جوړ کړې وي، که وغواړي نو پرېږدئ چې هغه لغتونه د" جادویي آس" کتاب نوو لغتونو سره یوځای کړي.)

زده کوونکو ته ووایاست: *پدې برخه کې ممکن داسې ډېر لغتونه ووایوسي چې تاسې به ورسره بلد نه یاست. راځئ چې د دې برخې د ځینو هغو لغتونو لیسټ جوړ کړو چې غواړو پرې پوه شو او یاد یې وساتو، او وروسته به تاسې اختیار ولرئ چې له ټول کتاب څخه هم پکې لغتونه وردېر کړئ.*

۱. **زده کوونکي د الفبا خپل لیسټونه جوړوي:** له هغې برخې چې همدا اوس مو ولوسته څخه د څو لغتونو پر خوښولو په الفبا لیسټ کې د لغتونو زیاتول وښایاست، ورپسې لغت د اړونده توري لاندې پر چارټ یا تختې لیکلو له لارې عملي وښایاست. کله چې مو په لیسټ کې د لغتونو لیکل وښودل له زده کوونکو وغواړئ چې په خط کشي شوې پاڼې یا په خپل کمپوزیشن کتابونو کې الفبا ولیکي، او د هر توري تر منځ یوه کرښه ځای پرېږدي. له هغوی وغواړئ چې له الف تر میم توري د پاڼې یو لورې او له ن تر یا پر بل لوري ولیکي (په راتلونکې پاڼه یې بیلګه وګورئ).

۲. له زده کوونکو وغواړئ چې د کیسې لومړۍ برخه چې همدا اوس ورته ولوستل شوه بیا وګورئ تر څو هغه لغتونه چې غواړي استعمال او زده یې کړي ولټوي. (زده کوونکي باید د لغت پر معنا پوه شي مخکې لدې چې په خپلو لیسټونو یې وردېر کړي. که پر لغت نه پوهیږي، وښایاست چې څرنګه د کیسې له محتویاتو د هغې پر معنا پوه شي، لکه چې لاندې ښودل شوي دي.)

د کیسې له محتویاتو څخه د معناوو معلومول: تاسې ممکن له خپلو زده کوونکو سره مرسته وکړئ چې د لغت ځای او کیسې محتوا پر لیدلو د لغت پر معنا پوه شي. دا ممکن داسې وشي چې لومړی له زده کوونکو وغواړئ د خپلې خوښې لغت خوښ کړي. کله چې زده کوونکو لغت خوښ کړ، له کتابه دې د لغت جمله ووایي. له زده کوونکو وپوښتئ چې په کیسه کې څه وشو چې له دوی سره یې د لغت معنا په درکولو کې مرسته وکړه. دا یوه بیلګه ده چې تاسې یې زده کوونکو ته وایلای شئ. ووایاست:

آیا یادېږي مو چې کیسه په "یوه سیمه وه چې خلک یې ډېر خوښ او هوسا وو" کې برابره شوې ده؟ که غواړئ چې د "هوسا" پر معنا پوه شئ، نو ممکن ورپسې جمله ولولئ او له ځانه وپوښتئ "کیسه څه وایي چې خلکو په سیمه کې څه کول؟ آیا دا مهارتونه به سیمه د ژوند او کار لپاره ښه ځای کړي یا بد؟" کله چې پر ځوابونو پوه شوئ، نو باید پوه شئ چې "هوسا" یعنې څه.

۳. له لس دقيقو وروسته، د زده کوونکو جوړې (يا ډلې) جوړې کړئ او ورځخه وغواړئ چې له خپل ملګري سره پر لغت وغږيږي او ولې يې د خپل په الفبا ليست وړډېر کړی دی.

۴. د څو دقيقو له بحثه وروسته، له زده کوونکو په وار وغواړئ چې په تخته د مناسب توري په وړاندې لغت وليکي. ورته ووايئ چې د هر لوستل کيدونکي کتاب لپاره د لغتونو ليست جوړولی شي. د ټولګي د الفبا د لغتونو ليست لوړ ولرئ او په ټولو فعاليتونو کې پرې لغتونه وړډېر کړئ.

۵. ورته ووايئ چې هغوی کولای شي هر څومره ويي (لغتونه) چې وغواړي د "جادويي آس" لپاره يې وړډېرولی شي او دوی په نورو ورځو کې هم دا کار کولای شي. ورته ووايئ چې د هر لوستل کيدونکي کتاب لپاره د لغتونو ليست جوړولی شي. د ټولګي د الفبا د لغتونو ليست لوړ ولرئ او په ټولو فعاليتونو کې پرې لغتونه وړډېر کړئ.

د ''جادويي آس'' د الفبا ليست لپاره د لغتونو ځينې بيلګې

ا: الماری، ازمينښت، اعلان، اوسپنی، اجازې، ارزښت، اوبو، آسانه، اغېزمن

ب: بار، باچا

پ: پرکيدونکې، پښې، پالل، پوه

ت: توږل، تکړه، تمرين، تنبل، تاويدونکی، ترکاټ

ج: جوړښت، جادويي آس، جايزې، جوړول

ځ: ځنګل، ځمکه

خ: خوبونه، خوښ

د: دليل

ر: رنا

ز: زما، زړه

ژ: ژبه

س: سوری، سرغړونه، ساتل، سيالان، ستړی

ش: شاهکار، شپه، شاهي کوټې

ښ: ښاريان

ع: عمل، عجيب

ف: فعاليت

ګ: ګټور

ل: لور، لوی، لياقت، لورې، لقب، ليد

م: مهارت، ماشين، ميوې، ممکن باچا، متخصصين

ن: نباتات

ه: شهزاده ، هيڅکله، هېوادونو

و: وسايل

ک: کب، کرل، کاهانا باچا

ي: يوازېوالی

د کيسې د دوهمې برخې وړاندوينه

۶. د نهايي فعاليت په توګه يا د کورنۍ کار په توګه يې هم ټاکلی شئ، پر زده کوونکو غږ وکړئ څوک غواړي چې وړاندوينه وکړي چې د کيسې په دوهمه برخه کې به څه کيږي. تاسې ممکن ووايئ:

څه فکر کوئ چې لرګين اس به اوس څه وشي چې په الماری کې بند شو؟

آيا شهزاده تنبل به وتښتي؟ څه فکر کوئ څه به پرې وشي؟

زده کوونکو ته واک ورکړئ چې خپلې وړاندوينې وکړي. کله چې زده کوونکي نظرونه ورکړي، وپوښتئ: *ولې داسې فکر کوئ؟*

ورپسې زده کوونکو ته ووایاست چې هغوی به په راتلونکي درس کې کله چې تاسې کیسه پای ته ورسوئ پوه شي چې وړاندوينې يې سمې دي که نه.

لغتونو کورنی کار: [*له زده کوونکو وغواړئ چې خپل کتابونه او پنسلونه له ځانه سره کور ته یوسي. وریاده کړئ چې بیرته یې بیا له ځانه سره ټولګي ته راوړي.*] زده کوونکو ته وړاندیز وکړئ که وخت ولري نو هغوی په کورونو کې تمرین کولای شي، ځکه تمرین به لدوی ښه لیکوالان جوړ کړي. ورته ووایاست چې تاسې به دوی ته وخت په وخت اړونده وړاندیزونه ورکوئ. دلته يې ځينې امکانات دي:

الف: زده کوونکو ته وړاندیز وکړئ هغه څه چې تر اوسه يې لوستي په یاد وساتي او فکر وکړي چې ورپسې به څه کیږي. پورته ۶ ګام وګورئ چې څرنګه دا فعالیت معرفي کړئ. ورته ووایاست، که وخت ولري، خپل نظرونه په خپل کمپوزیشن کتابونو کې لیکلی شي او ورسره ولیکي چې ولې داسې وړاندوينې کوي.

ب: هغوی ممکن وغواړي چې د خپل کمپوزیشن کتاب نظرونه له نورو سره شریک هم کړي.



دوهمه ورځ: د کیسې لومړۍ لوستنه

درس ته تیاری

- د کیسې دوهمه برخه له ځان سره زده کوونکو ته لوستلو نه وړاندې په لوړ غږ څو ځل ولولئ تر څو له کیسې سره بلد او په آسانه یې ولوستلی شئ.
- په کیسه کې درې یا څلور داسې ځایونه په نښه کړئ چې هلته وقفه وکړئ، او شاګردانو ته د دې فرصت ورکړئ چې د کیسې د راتلونکیو پېښو وړاندوینه (پیشبیني) وکړي.
- د هر زده کوونکي لپاره یو کتاب تیار ولرئ تر څو یې پرې وویشئ.
- د کیسې دوهمې برخې د لغتونو فعالیت ولولئ او مواد تیار ولرئ تر څو د ټولګي الفبا پر لیسټ یې ورډېر کړئ.

په یادول او وړاندوینې کول - د کیسې دوهمه برخه

د کورني کار ارزونه: که فکر کوئ وخت لرئ نو ممکن له زده کوونکو وپوښتئ که کوم یو یې غواړي چې له خپل کمپوزیشن کتاب څخه د کیسې راتلونکې برخې باره کې خپلې وړاندوینې نورو ته ولولي. زده کوونکي د خپل کار د شریکولو له کبله تقدیر کړئ او نور وهڅوئ چې په کور کې ولولي او ولیکي. زده کوونکو ته ووایاست هر کله چې وخت ولري دا به یو ښه تمرین واوسي.

۱. زده کوونکو ته ووایاست چې نن به د "جادویي آس" کیسې لوستل ختموئ. مخکې لدې چې لوستل پیل کړئ، هر زده کوونکي ته کتاب ورکړئ. ورڅخه وغواړئ چې کتابونه پرانیزي او لومړي عکسونه وګوري او راپه یاد کړي چې د کیسې په پیل کې څه وشول، دا پوښتنې وکاروئ:

دلته ښودل شوې څېرې څوک دي؟

د کیسې په دې برخه کې څه کېږي؟

۲. دا پوښتنې د هرو دوو مخونو لپاره وپوښتئ، تر څو چې ۱۹ ام مخ ته ورسیږئ، چیرې چې وایي: همداسې اس په الماری کې کیښودل شو ورپسې تاسې هغه ځای ته رسیږئ چې موږ یې نن لولو. زده کوونکي وستایي چې له لومړۍ برخې څخه یې دومره څه په یاد وو.

د کیسې دوهمې برخې لوستل

درس ته تیاری

- په ټولګي کې د الفبا لیسټ تیار ولرئ.
- د وینا لغتونو فعالیت برخو لپاره، له کیسې څخه له وخت وړاندې د لغتونو او جملو جوړې تیارې ولرئ.

• باوري کړئ چې هر زده کوونکی د دې فعالیت او کورنۍ کار لپاره کتاب، د هغوی د کمپوزیشن کتاب (یا کرښې لرونکی پاڼه) او پنسل ولري.

هر زده کوونکي ته کتاب وسپارئ. له هر زده کوونکي وغواړئ چې د کیسې دوهمې برخې پیل (۲۰ پاڼې) ته کتاب پرانیزي، او ورته ووایاست چې کله تاسې کیسه په لوړ غږ لولئ په خپل کتابونو کې تاسې تعقیب کړي. د لومړئ ورځې فعالیتونو ۲ – ۴ ګامونو د وړاندوینې او یادولو وړاندیزونه وکاروئ.

د مهارت د انکشاف اندازه کول د لومړي لوست ورځې لپاره (دوهمه - لومړۍ ورځ) : رایادولو او نتیجه ګیري

د پرمختیا درجه ۱ - ۴: دا درجې د خپلو زده کوونکو د انکشاف د ټاکلو لپآره د زده کوونکو او ټولګي د انکشاف په چارټ کې چې د دې لارښوود په اخر کې درکول شوې دي، استعمال کړئ.

درجه ۱: زده کوونکی لوستل شوی کیسه هیڅ نشي رایادولی یا چې کله ورڅخه وغوښتل شي نو داسې وړاندوینې کوي چې منطقي نه وي یا شتو معلوماتو سره هیڅ ربط نه لري.

درجه ۲: زده کوونکی د لوستل شوی کیسې ځینې برخې رایادولی او یو منطقي نتیجه وړاندوینه کوي چې له شتو معلوماتو سره ربط لري او د وړاندوینې ملاتړ لپاره دلیل وړاندې کوي. زده کوونکی شاید او یا شاید هم نه کله چې لولي وړاندوینه په یاد و نه لري او هغه نوي معلومات چې د وړاندوینې پورې ارتباط لري و نه پیژني.

درجه ۳: زده کوونکی د لوستل شوی کیسې ډیره برخه رایادولی او داسې نتیجه وړاندوینه کوي چې له شتو معلوماتو سره ربط لري، د وړاندوینې ملاتړ لپاره دلیل لري، پوهیږي چې کله نوي معلومات له وړاندوینې سره مربوطیږي او وړاندوینه هماغسې ساتي یا یې مناسبه بدلوي.

درجه ۴: زده کوونکی ټول لوبغاړي او پیښې رایادولی او په ځانګړي ډول د کیسې د شتو معلوماتو پر بنسټ په وړاندوینو او ورپسې معلوماتو پر کارولو د وړاندوینو په ساتلو یا سمولو کې ښه دی.

د لوستنې زو او وې نې زو مهارتونو لوړاوی – دوهمه ورځ

د لغوي فعالیتونو رامنځ ته کول - دوهمه برخه

۱. له لوستلو وروسته، له زده کوونکو وغواړئ چې ټول کتاب یو ځل بیا له سترګو تیر کړي تر څو هغه لغتونه په نښه کړي چې غواړي پرې پوه او استعمال کړي، ویې هڅوئ چې رسامیو ته په دقت وګوري او عکس شوو شیانو ته پاملرنه وکړي او ممکن نومونه به یې هم وغواړي چې ولیکي. د ښلګې په ډول، د کتاب په لومړیو څو مخونو کې زده کوونکي به مانې، د ټټار دکان، ښاریان، ځناور او نور وګوري.

۲. له زده کوونکو وغواړئ چې د ټولګي او شخصي الفبا لغتونو په لیستونو نور ټکي هم ورډېر کړي. د لومړئ ورځې د لغتونو فعالیت ګامونه تعقیب کړئ.

د لومړۍ ورځې ۷ شمیرې پاڼې درس **د کیسې محتوا له لارې د لغتونو معناوو معلومول** ته مراجعه وکړئ تر څو مو له زده کوونکو سره د لغت معناوو په پوهیدو کې مرسته کړې وي.

دلته د متن له دوهمې برخې او د ټول کتاب د رسامیو څخه د لغتونو نمونوي لیست دی، چې ستاسې زده کوونکي یې ممکن وغواړي شامل کړي:

د "جادويي آس" دوهمې برخې څخه د ځينو لغتونو او رسامیو لپاره د الفبا تورو ليست ښيلګه

ا: اغېزمن، اوښان، انسان، اغېزې، افسر

ب: بهترين، باغ، بې رحمه، بې حده

پ: پرده، پوه

ت: تباه، تقدير

ټ: ټاپو

ج: جادوګرزاده

چ: چيغې

ځ: ځناور

څ: څراغ

ح: حيران

خ: خوښ، خوب

د: دښته

ر: راغونډ ، راغلل، راوغوښتل، روان

ډ: ډله

ز: زړه

ژ: ژر

س: سرتېرى، سرچشمه، سفر، ستونزه

ش: شرايط

ښ: ښکرور

ع: عقل، عجيب

غ: غوږ

ګ: ګړينګې، ګوربته، ګلدانۍ

ل: لوبه، لړم

م: مزدورې

ن: ناوړه، نجوميان، نارامه

ه: هيڅوک، هڅه، هوښيار،

و: وڅکلې، ويرېرې، ورک، واده، وارخطايي

ک: کړکۍ

ي: يخې

۳. د لغتونو معنا او وينا برخو پوهه تکرارول: تاسې به وغواړئ چې له کيسې لغتونه يا جملې وکاروئ تر څو په زده کوونکو کې د وينا بيلابيلو برخو زده کړې پوهه تکرار او باورې کړئ. دا ځينې فعاليتونه دي چې تاسې يې د دې هدف لپاره کارولی شئ:

الف: له زده کوونکو وغواړئ چې په کيسه کې د لغتونو جوړې وموميې او په جمله کې يې وکاروي تر څو د معنا زده کړه يې باورې شي. ورځخه وغواړئ چې جملې پخپلو کمپوزيشن کتابونو کې وليکي. که وخت وي، نو له زده کوونکو وپوښتئ که کوم يو يې غواړي چې خپلې جملې ټولګي ته ولولي. ضرور نه ده چې جملې بايد د کيسې جملې واوسي. هغوی ته د لغتونو جوړو بيلګې ورکړئ، لکه:

جادويي آس	کرار کرار په هوا کې
ډېر ښه تورلې	ښکرور شهزاده
تاويدونکې مانۍ	انساني شکل

د دې جوړو کاروونکو جملو بيلګې:

سرتيرو تاويدونکی مانۍ ساتله.

هغه ډېر ښه تورلې آس جوړ کړ.

ب: تاسې به له زده کوونکو دا هم وغواړئ چې د لغتونو ورته جوړښتونه ولټوي او په نوو جملو کې يې همدا ډول وکاروي.

ت: له کيسې څخه جملې يا کوچني پاراګرافونه خوښ کړئ، ټاکلي لغتونه پريږدئ، او له زده کوونکو وغواړئ چې د هرې جملې پوره کولو لپاره له ليستې څخه لغتونه خوښ کړي. **تاسې ممکن زده کوونکو ته وښایاست چې دا تمرین به تاسې ته د غږیدا بیلابیلو برخو کارولو روزنه درکړي.** د بيلګې په ډول، تاسې ممکن ووایاست: "*یاد ولرئ چې مصدر تشریحي لغتونه دي، فعل د عمل لغتونه دي، قیدونه څرنګوالی، کله او چیرته ښیي...*" او همداسې نور. دا لغتونه ليستې يوه بيلګه ده:

لغتونه چې انتخاب تړې کولای شئ:

تاویدونکي	څو
اوسپنې	پردو
مزدورې	لوبو
توپه	ماشین

"هغه د _____کب سره پرتله کیدای نه شي." [له ليستې څخه مناسب صفت وټاکئ]

"کله چې هغه د باچا حرمسرای ته ورسید، هغه د _____ شاته پټ او هملته ویده شو." [له ليستې څخه اسم وټاکئ]

ارزونه: **لغتونو مطالعه**

درجه ۱: زده کوونکې لوستلي يا پر بحث کيدونکي لغتونه نه پيژني يا يې د لغتونو په فعاليتونو کې نشي کارولی.
درجه ۲: زده کوونکې ځيني لغتونه د لغتونو په فعاليتونو کې کارولی شي.
درجه ۳: زده کوونکې د لغتونو په فعاليتونو کې څو لغتونه په ښه توګه کارولی شي خو له خپله ځانه پکې نور نشی وړډېرولی.
درجه ۴: زده کوونکې کولای شي چې څو لغتونه د الفبا له ليستې څخه وکاروي او ورسره نور لغتونه هم راپيژني او کاروي يې.



لغتونو کورنی کار: [*له زده کوونکو وغواړئ چې خپل کتابونه او پنسلونه له ځانه سره کور ته یوسي. وریاده کړئ چې بیرته یې بیا له ځانه سره ټولګي ته راوړي.*]

الف: له زده کوونکو وغواړئ چې خپل کتابونه کور ته يوسي او کيسه يوازې او که وغواړي نو خپلې کورنۍ ته ولولي.

ب: له زده کوونکو وغواړئ چې د خپلو الفبا ليستونو څخه د لغتونو پر کارولو په خپل کمپوزيشن کتابونو کې جملې وليکي.

درېيمه ورځ: د کيسې دوهمه لوستنه

لاندې د کيسې د درېيمې لوستنې په اړه ځينې مشورې بيان شوي.

درس ته تياری

- د الف۴ ګام ته تياري ليارې، وبه غواړئ چې زده کوونکي د درس له پيل وړاندې د دريو په جوړو يا ډلو وويشئ تر څو هغوی پوه شي چې له چا سره وغږيږي وروسته لدې چې تاسې لاربښوونې ورته وکړئ. له هغوی غوښتنه وکړئ چې له نيږدې ناستو شاګردانو سره درې کسيزه ډلې جوړې کړي.
- غږ ماشين تيار کړئ، که لرئ يې، د کيسې سي ډي يا کيسه ورواچوئ.

د کيسې د دوهمې لوستنې کړنې (فعاليتونه)

د کورنۍ کار ارزونه: که فکر کوئ چې کافي وخت لرئ، نو کولای شئ هره ورځ د درس له پيله وړاندې د زده کوونکو کورنۍ کارونو کتلو ته ځانګړې کړئ.

له زده کوونکو وپوښتئ چې آيا دوی کيسې يوازې يا خپلو کورنيو ته لوستلو ليارې وخت درلود او لوستی يې ده.

له زده کوونکو وپوښتئ چې که يو يې د لغتونو پر کارولو کومې جملې ليکلې وي او غواړي چې له ټولګي سره يې شريکې کړي.

زده کوونکي د خپل کار د شريکولو له کبله تقدير کړئ او نور وهڅوئ چې په کور کې ولولي او وليکي. زده کوونکو ته ووايئ هر کله چې وخت ولري دا به يو ښه تمرين واوسي.

دلته د کيسې د دوهمې لوستنې ليارې ځينې مشورې بيان شوي.

۱. زده کوونکو ته ووايئ چې تاسې غواړئ دوی يو ځل بيا کيسې ته غوږ شي. دا ځل بايد ډېره په پاملرنه يې واوري، ځکه وروسته تاسې د کيسې باره کې پوښتنې پوښتئ. د کتابونو کارولو اړتيا نشته، يوازې واورئ.

۲. له پيله تر پايه کيسه ولولئ. او که غږيز ډول يې لرئ نو ويې غږوئ.

د مهمو مفکورو معلومول - نتيجه ګيري

۳. کله چې مو ټول کتاب ختم کړ، زده کوونکو ته ووايئ:

په دې کيسه کې ګڼ شمېر په زړه پورې ځېرې دي. ځينې يې ښايي داسې ځوک در په زړه کړي چې پېژنئ يې، او د کيسې پېښې ښايي داسې پېښې در يادې کړي چې تاسې ته در پېښې شوي دي. تاسې هريوه د کيسې د

اورېدنې پر مهال، د يوه جلا شي په اړه فکر کاوه. اوس زه له تاسې څخه غوښتنه کوم چې د لاندې پوښتنو په اړه فکر وکړئ:

د کيسې کومه برخه ستاسې لپاره تر ټولو مهمه وه؟

دغې برخې ستاسې لپاره ولې ځانګړی اهميت درلود ؟

د ځواب په اړه يوه شېبه فکر وکړئ، او بيا به زه له تاسې وغواړم چې خپل ځوابونه لومړی خپل يوه ملګري ته وواياست. بيا به زه له يو څوکسانو وغواړم چې ټول ټولګي ته ووايي چې څه ورته تر ټولو مهم برېښېدل.

د دې پوښتنې ځوابونه به مختلف وي. زده کوونکي به بېلابېل ځوابونه ورکړي، او لوستونکي او اوريدونکي به بيلابيل نظرونه ولري چې څه هغوی ته د فرد په توګه مهم دي او د کيسې کليدي مفکورې څه دي. د بيلګې په ډول، ځينې زده کوونکي به فکر وکړي د تنبل د لرګين آس خوښول د کيسې تر ټولو مهمه برخه وه، ځکه سره لدی چې د ميخانيکي کب په ځير ګټور نه وو خو د تنبل او بادشاهت راتلونکي لپاره ډېر مهم واقع شو. نور زده کوونکي ممکن فکر وکړي د ږيرور سړي تنبل ته دا ويل چې څرنګه د خپل زړه ارمان حاصل کړي تر ټولو مهمه برخه وه. **په دې کې غلط ځواب نشته.** د شاګردانو انتخاب د هغوی د نظرياتو پر سر د بحث په اندازه مهم نه دی.

۴. زده کوونکيو ته د فکر کولو لپاره يوه يا دوه دقيقې وخت ورکړئ، او بيا يې په درې کسيزه ډلو ووېشئ، چې له يو بل سره د کيسې د تر ټولو مهمې برخې په اړه خبرې وکړي. ښايي تاسې د شاګردانو په منځ کې وګرځئ راوګرځئ، او د هغوی خپل منځي خبرې اترې واورئ. تاسې د هغوی نظرياتو ته د ځواب ويلو اړتيا نه لرئ، يوائې سر خوځول مو کافي دي.

۵. پر يوه يا دوو زده کوونکو غږ وکړئ چې ټول ټولګي ته ووايي چې په کيسه کې تر ټولو مهم څه وو او ولې. هغوی دې ته وهڅوئ چې يو د بل خبرې په غور واوري، ترڅو معلومه کړي چې د کيسې څومره بېلابېلې برخې مهمې ګڼل کېږي.

۶. به تاسې وغواړئ چې وخت ته پر کتو په دې پوښتنو نور بحث هم وکړئ. دا به زده کوونکي وهڅوي چې د کيسې د معناوو باره کې نور هم فکر وکړي. د خپلو زده کوونکو عمر ته پر کتو مناسبې پوښتنې خوښې کړئ. زده کوونکي ښايي دې پوښتنو ته مختلف ځوابونه ولري، چې ټول يې بايد سم وګڼل شي. د پوښتنې هدف يوازې او يوازې دا دی چې زده کوونکي په خپله ځاني طريقه د کيسې په وړاندې غبرګون ښودلو ته راوبلل شي.

- *د ممکن باچا لرګين آس دومره خوښ نه شو، خو ميخانيک کب يې ډېر خوښ کړ. ستاسې په فکر داسې ولې؟*
- *تنبل وايي، "کاشکې پوهيدای چې د ټولو لپاره څه ښه دي. او کاشکې پوهيدای چې زما د زړه آرمان څه دی." آيا فکر کوئ دا ارمانونه مهم دي؟ ولې او ولې نه؟*
- *وايي چې ممکن باچا "روښانفکره" باچا وو. آيا فکر کوئ چې روښانفکر وو؟ ولې او ولې نه؟*
- *ولې فکر کوئ چې پښې د لوړو ديوالونو شا ته کار کاوه او خپل کار يې پټ ساته؟ دا تاسې ته د هغه باره کې څه وايي؟*
- *څه فکر کوئ چې ولې ترکان د خپل کار له پيلولو وړاندې بهر ځي او يو څه فکر کوي؟ دا تاسې ته د ترکانو باره کې څه وايي؟*

- څه فکر کوئ چې ولې کله چې تنبل هغه تازه میوه وخوړه او څیره یې بدله شوه فکر وکړ چې هیڅوک به ورسره واده ونه کړي؟ آیا فکر کوئ ظاهري څیره مهمه ده؟ ولې او ولې نه؟
- کله چې تنبل فکر کوي هر څه یې له لاسه ورکړل او د زړه ارمان ته به هیڅکله ونه رسیږي، هوښیار ډیرور سړی ورته وایي چې حوصله له لاسه نه ورکوي او د خپل زړه ارمان په ذهن کې وساتي. دې سلا باره کې څه فکر کوئ؟
- تاسې څه پوښتنې لرئ؟



لغتونو کورنی کار: [له زده کوونکو وغواړئ چې خپل کتابونه او پنسلونه له ځانه سره کور ته یوسي. وړیاده کړئ چې بیرته یې بیا له ځانه سره ټولګي ته راوړي.]

الف: له خپل ځانونو یا له کورنۍ سره، له زده کوونکو وغواړئ چې کیسه بیا ولولي.

ب: له زده کوونکو وغواړئ چې د کیسو پیښو لړۍ په خپلو کتابچو کې ولیکي او که وغواړي نو ځینو لپاره رسامي هم وکړي.

د درېیمې ورځ لپاره د مهارتونو پرمختګ ارزونه: نتیجه ګیري

درجه ۱: هغه زده کوونکي چې د قصې ډیرې برخې یې نه وي په یاد او د نتیجه ګیرۍ لپاره ښه دلایل نه شي ویلی، او ان د ښوونکي په ملاتړ هم خپلې نتیجه ګیرۍ ته دلایل نه شي وړاندې کولای.

درجه ۲: هغه زده کوونکي چې د قصې یو څه برخې یې په یاد وي او کولای شي چې څه ساده نتیجه ګیرۍ وکړي، کیدای شي یو څه ګډوډه وي یا مبهمه وي یا کیدای شي یو څه د متن د منطقي ملاتړ (حمایې) څخه لرې وي.

درجه ۳: هغه زده کوونکي چې قصه یې په یاد وي او کولای شي چې ساده نتیجه ګیري وکړي، او د هغې لپاره کافي دلایل هم وړاندې کړي، خو یو څه عمومي وي.

درجه ۴: هغه زده کوونکي چې قصه یې زده وي او موضوع ته نږدې نتیجه ګیري وکړي، کیدای شي څه مشکلات ولري. موثر دلایل وړاندې کړي او همیشه د موضوع په باره کې مشخص وي.

څلورمه ورځ: د مهمو مفکورو لپاره د کیسې تکرارول - لومړۍ برخه

له زده کوونکو سره د کیسې تکرارولو لپاره دا ځینې وړاندیزونه دي.

درس ته تیاری

- ښه به وي چې یوځل بیا د کیسې د لوستنې تمرین اجراء کړئ.
- لکه څرنګه چې په لومړي ګام کې وړاندیز وشو "**په کې اصل لوبغاړي او د پیښو لړئ**" تیار کړئ او په ټولګي کې وښایاست.

- د "جادويي آس" کتاب له ځان سره ولرئ.

- باوري کړئ چې هر زده کوونکی د دې فعاليت او کورنۍ کار لپاره کتاب، د هغوی د کمپوزيشن کتاب (يا کربنې لرونکی پاڼه) او پنسل ولري.

- مهرباني وکړئ او د څلورمې او پنځمې ورځې فعاليتونه داسې پلان کړئ چې د امکان تر حده يو بل سره نږدې واوسي تر څو لدې فعاليتونو اعظمي ګټه واخيستلای شئ. د څلورمې او پنځمې ورځې فعاليتونه له وخته وړاندې ولولئ تر څو د زده کوونکو لپاره دا فعاليتونه په تر ټولو ښه طريقه سره ونښولولای شئ.

د کيسې پيښو لړۍ برابرول

د کورنۍ کار ارزونه: که فکر کوئ چې کافي وخت لرئ، تاسې ممکن له خپلو زده کوونکو وپوښتئ چې کوم يو يې د کيسې لوستلو لپاره وخت درلود، له خپل ځان سره يا خپلو کورنيو ته، يا د کيسې پيښو لړۍ يې ليکلې او ځينو ته يې رسامي کړې وي.

زده کوونکي د خپل کار د شريکولو له کبله تقدير کړئ او نور وهڅوئ چې په کور کې ولولي او وليکي. زده کوونکو ته ووايئ هر کله چې وخت ولري دا به يو ښه تمرين واوسي.

لدې فعاليت سره، زده کوونکي هڅيږي چې د کيسې برخې او اصل لوبغاړي وپيژني او پرې وغږيږي چې له پيله پيل بيا منځ او ورپسې د کيسې پای څيړي. د پيښو لړۍ برابرول يو له څو مهارتونو څخه دی چې له زده کوونکي سره د لوستل کيدونکو موادو پر پوهيدو او د کليدي ټکو د ارزولو په توان کې ورسره مرسته کوي، او دا به د زده کوونکو لپاره يو فرصت وي چې متن او د کيسې جوړښت وازمويي، چې په نتيجه کې به د هغوی د ليکلو مهارتونه غښتلي کړي.

۱. خپل د اصل لوبغاړو او پيښو لړۍ ليست په ټولګي کې څليښ يا پر تخته يې وليکئ تر څو ټول زده کوونکي يې وويني. زده کوونکو ته ووايئ چې تاسې به د کيسې د پيښو پر لړۍ او د هغې پر لوبغاړو چې پدې پيښو کې دخيل و وغږيږئ او ليست به لدوی سره پر هغې فکر کولو کې مرسته وکړي.

دا ليست زده کوونکو مراجعې لپاره د دې کتاب د استعمال پر مهال له ځان سره ولرئ. تاسې ممکن ورته وړاندیز وکړئ چې دا په خپل کمپوزيشن کتابونو کې نقل کړي.

دا يې يوه بيلګه ده چې کارولی يې شئ يا خپل هم جوړولی شئ. (يادونه: په قوسونو کې توکي د بحث لپاره وړاندیزونه دي تر څو له زده کوونکو سره د کيسې په رايادولو کې مرسته او د کيسې کليدي مفکورو باره کې فکر وکړي. تاسې نه بايد دا د ټولګي ليست لپاره له سره جوړ کړئ.)

په جادويی آس کې اصل لوبغاړي او د پيښو لړۍ

ممکن باچا *(له زده کوونکو وپوښتئ چې په کيسه کې يې د ممکن باچا په اړه څه ويلي وو، چې څرنګه واکمن وو)*

هوښيار او تنبل *(له زده کوونکو وپوښتئ چې په کيسه کې دواړه لوبغاړي څرنګه وو؛ کيسه څه وايي چې څرنګه بدل وو او څرنګه يو ډول وو)*

سيالي *(له زده کوونکو وپوښتئ چې سيالي څه وه، په سيالۍ کې چا برخه اخيستی وه او هر يو څه وکړل)*

ميخانيک کب او لرګين آس *(له زده کوونکو وغواړئ چې کب او آس بيان کړي، ورځخه وپوښتئ چې څرنګه بدل وو او څرنګه يو ډول وو)*

لرګين آس *(له زده کوونکو وپوښتئ چې تنبل د آس باره کې پر څه پوه شو، او آيا دوی فکر کوي څه چې له هغه سره پر آس وشو له هغه نيامن واکمن جوړ کړ. که هو، نو ولې داسې فکر کوي؟)*

هوښيار او تنبل د ټولو پر ښه او څرنګه د خپل زړه ارمان حاصل کړي غږيږي *(له زده کوونکو وپوښتئ چې هر شهزاده څه وايي؛ پر تنبل څه وشول کله چې يې دې باره کې فکر وکړ)*

تنبل او ګرانه ملغره يو بل ويني *(له زده کوونکو وپوښتئ چې څرنګه يو بل ويني؛ کله چې تنبل د هغې له پلاره د واده اجازه وغوښته، څه وشول)*

د کاهانا باچا د لرګين آس په وړاندې لومړی غبرګون *(له زده کوونکو وپوښتئ چې باچا لومړی د آس باره کې څه فکر وکړ، پر هغې يې څه وکړل)*

تنبل ځان ناتوانه احساسوي او په صحرا کې ورکيږي *(له زده کوونکو وپوښتئ چې ولې تنبل ځان نږدې ناهيلې احساس کړ؛ هغه په صحرا کې څرنګه ورک او هلته پرې څه وشول؛ څه فکر کوئ چې په کيسه کې دا څومره مهم دي)*

هغه سلا چې تنبل ته ورکړل شوه *(له زده کوونکو وپوښتئ چې چا سلا ورکړه، سلا څه وه او تنبل پرې عمل وکړ، څه فکر کوئ چې سلا څومره مهمه وه)*

جادوګر زوی ، ښکرور شهزاده *(له زده کوونکو وپوښتئ چې دې لوبغاړي په کيسه کې کومه برخه ولوبوله؛ او هغې څه وکړل چې له تنبل سره يې د هغې زړه ارمان ته په رسيدو کې مرسته وکړه)*

د تنبل تيښته او شهزادګي *(له زده کوونکو وپوښتئ چې ولې شهزادګۍ او تنبل له خپل حالا ته وتښتيدل او څه مهم شيان يې بايد کړي وای تر څو وتښتي لکه تنبل له حالا تو ګټه واخيسته او ځان يې جادوګرزوی وښود؛ شهزادګۍ له خپل پلاره لرګين آس اخلي تر څو دواړه د تنبل کور ته ستانه شي)*

د زړه آرمان *(له زده کوونکو وپوښتئ چې د خپل زړه ارمان په لټه کې پر تنبل څه وشول؛ آيا ورورسيد؛ په کيسه کې پر نورو لوبغاړو لکه ترکان، شهزادګۍ ګرانه ملغره او هوښيار څه وشول)*

۲. د لړۍ په ليست کې تر ټولو لوړ توکي ته اشاره وکړئ، ورپسې په کتاب کې د کيسې لومړي دوه مخونه راواړوئ او ويې نيسئ. ووايياست:

دا لوبغاړي د کيسې په پيل کې پيژندل شوي دي. (ورپسې په خپل ليست کې د هرې پيښې يا لوبغاړي بحث پوښتنې لکه چې په پاسنۍ بيلګه کې ښودل شوي پيل کړئ. همداسې کتاب پاڼو نيولو ته دوام ورکړئ چيرې چې پيښه پيښيږي يا لوبغاړي پيژندل کيږي.)

۳. زده کوونکو ته ووايياست چې دوی د کليدي پيښو لړۍ او لوبغاړو په برابرولو کې ډير ښه وکړل. ووايياست:

د کيسې لوستلو او بحث پر مهال، تاسې ممکن د کيسې مهمو انګيزو باره کې يو څه فکرونه ولرئ. بل ځل، موږ به په کيسه کې وړاندیز شوو مهمو مفکورو څخه پر يوه بحث او ليکنه کوو.

ورپسې د کيسې کليدي توکو څخه يو باره کې "ټاکنو باره کې فکر" راتلونکی درس معرفي کړئ.

ارزونه: د پيښو لړۍ برابرول (په قصه کې د کليدي نظرونو منعکسول)

درجه ۱: زده کوونکی نشي کولای کيسې ته لړۍ برابره کړي يا په کيسه کې پيښې او لوبغاړي وپيژني. د کيسې باره کې لږ يا غلط معلومات يا له موضوع وتلي معلومات ورکوي.

درجه ۲: زده کوونکی کولای شي يو څه کيسه په منظمه لړۍ کې برابره کړي، لکه پيل او پای او د کيسې ځينې کليدي پيښې يا لوبغاړي پيژني. کيسه ممکن ګډوډه وي يا زده کوونکی به د پيښو يا لوبغاړو په اړه غلطيانې وکړي.

درجه ۳: زده کوونکي کولای شي کيسه په سم نظم له دوام سره په لړئ برابره کړي، د کيسې کليدي پيښو يا لوبغاړو باره کې مهم معلومات ورکوي او ممکن له خپله ځانه يوه مهمه انګيزه يا فکر ووايي.

درجه ۴: زده کوونکی کولای شي د کيسې پيښې يا لوبغاړي په سم نظم له تشريح سره بيان کړي. زده کوونکی کليدي انګيزې او فکرونه خلاصه او پرې غږيږي.

د کيسې کليدي مفکورو باره کې فکر کول او ليکل

لکه زموږ د ټولو رواجي کيسو په څير، په دې کيسه کې هم څو مهمې مفکورې شته، او دا مفکورې يوازې له يو څه وخته وروسته او په ژوند کې يو څه پيښيدو وروسته لوستونکي ته يادیږي. د څلورمې او پنځمې ورځ لپاره، موږ دوه مفکورې خوښې کړي چې له خپلو زده کوونکو سره پرې بحث وکړئ، او د ليکنې تمرينونه مو يې شامل کړي چې د دې مفکورو باره کې د هغوی فکرونو او پوهې بهترولو کې مرسته کوي.

د مهمو مفکورو معلومول - د ټاکنو باره کې فکر

کله چې زده کوونکی مهمې مفکورې وپيژني، هغه د دوی پوهه او لوستنې ښه مهارتونه بهتروي. دا مهارتونه به د لوستنې نورو فعاليتونه ته انتقال شي چې دوی يې کې دخيل دي. لدې لوستنی سره، تاسې به له خپلو زده کوونکو سره مرسته وکړئ چې په کيسه کې مهمې مفکورې وپيژني.

دا ډول زده کړه ييزه کيسې له موږ ټولو سره مرسته کوي تر څو هغه مشخصات وپيژنو چې په موږ ټولو کې عام دي. د "جادويي آس" يو اړخ د بيلابيلو ټاکنو او ولې يې موږ ټاکو باره کې دی. کيسه وړاندیز کوي چې د بيلابيلو ټاکنو باره کې د فکر بيلې او ګټورې لارې شته دي. د ټاکنو باره کې له زده کوونکو سره غږيدل به له هغوی سره مرسته وکړي تر څو ځان لپاره لوړ اهداف وټاکي، او دې اهدافو باره کې فکر وکړي او څرنګه د دوی او د کورنۍ او ټولنې پر ژوند اغيزه ښندلی شي.

ياد ولرئ، چې د دې فعاليت لپاره زده کوونکي بايد وکولای شي چې آزاد فکر او اظهار يې کړي چې يو نوي څه به ورته وي. د دې لپاره، هغوی بايد په رواني توګه ځان خوندي احساس کړي او ورسره پوه شي چې ځوابونه يې قبلیږي هيڅ "غلط" ځواب نشته.

درس ته تیاری

- هر زده کوونکی به د "جادویي آس" او کمپوزیشن کتاب یا لیکلو پانې او پنسلو ته اړتیا ولري.
- د ټولګي بحث لپاره د چارټ پانه یا تخته تیاره ولرئ.
- که اړتیا وي، نو د زده کوونکو مراجعې لپاره "په جادویی آس کې اصل لوبغاړي او د پیښو لړۍ" لیسټ ولرئ.
- درس ولولئ تر څو پوه شئ چې دا ګامونه تعقیب کړئ.

۱. خپلو کتابونو ته له مراجعې سره، له زده کوونکو وغواړئ چې د هوښیار او تنبل پر بیلابیلو ټاکنو وغږیږي. زده کوونکو ته وریاده کړئ چې هوښیار اوسپنیزه میخانیکي کب وټاکه او تنبل جادویي آس خوښ کړ. دواړه ټاکنې سره پرتله کړئ، لکه:

- **دواړه ټاکنې ګټوري دي**: دواړه ټولنې ته خیر رسوي.
- **یوه ټاکنه څرګنده ده، بله نه ده:**

د هوښیار ټاکنه ډیره څرګنده ده. هوښیار غواړي د اوسپنیزه کب جوړیدل وڅاري. هغه د عجیبه میخانیکو وسیلو په کارولو کې چې د ټولنې ګټې لپاره بیا جوړیدای شي تکړه دی.

د تنبل ټاکنه ډیره څرګنده نه ده؛ په یاد ولرئ چې په کیسه کې اکثره خلک فکر کوي جادویي آس د لوبو څیز دی. آس کولای شي د تنبل آرمان معنا کړي ځکه تنبل په ربښتیا غواړي چې پوه شي د هغې او نورو لپاره څه ښه دي. اوسپنیزه کب ته ناورته، د آس نور نشي جوړیدای، دا د ترکان لخوا د اوږد یوازیوالي او فکره وروسته جوړ شو.

۲. پر توره تخته دوه کالمونه جوړ کړئ او له زده کوونکو وغواړئ چې د خپلو کمپوزیشن کتابونو پر یوه پانه (یا د لیکنې پر کومه ورقه) هم دوه کالمه جوړ کړي او هغه څه لیسټ کړئ چې دوی فکر کوي د هوښیار ټاکنې او تنبل ټاکنې تر منځ توپیرونه وو. دا یې بیلګه ده:

د هوښیار ټاکنه

هغه د عجیبه شیانو په جوړولو کې ماهر وو چې د سیمې خلک به ورته حیران وو. د هغه ټاکنه آسانه وه ځکه هغه احساس کړه چې له اوسپنیزه کب څخه چې د ساعتیرۍ او خوند اخیستول ډک دی، به بل هیڅ شی ګټور نه وي.

د تنبل ټاکنه

هغه خوب لیدونکی وو په هغه څه کې یې ارزښتونه لټول چې نورو ورته لږ ارزښت ورکاوه. هغه نوې مفکورې قبلولې، نو ځکه یې آس وټاکه او ډیرو ځایونو ته د تګ توان یې تر ګوتو کړ، ډیر څه یې زده کړل او اخیره کې د خپل زړه ارمان ته ورسید.



لغتونو کورنی کار: *[له زده کوونکو وغواړئ چې خپل کتابونه او پنسلونه له ځانه سره کور ته یوسي. وریاده کړئ چې بیرته یې بیا له ځانه سره ټولګي ته راوړي.]*

الف: له زده کوونکو وپوښتئ چې د خپل زړه ارمان باره کې فکر وکړي چې څه به وي. ورپسې ترې وپوښتئ چې څه باید وتاکي، څه باید وکړي تر څو ورورسیږي. هغوی خپل فکرونه او مفکورې په خپلو کمپوزیشن کتابونو کې لیکلی شي.

ب: له زده کوونکو وغواړئ چې د خپلې کورنۍ له غړو د هغوی د زړه ارمانونو باره کې وپوښتي او څه باید وکړي چې ورورسیږي یا څه یې کړي دي چې ورورسیدلي دي. که د کورنۍ غړي یې ومني، زده کوونکي کولای شي څه چې وایي له ځانه سره ولیکي او له ټولګي سره یې ګډ کړي.

ارزونه: د کلیدي مفکورې معلومول (انعکاس، برابرول او د مهمو مفکورو معلومول)

درجه ۱: زده کوونکی د کیسې مهمې مفکورې نه پیژني او خپلې نشي جوړولی.

درجه ۲: زده کوونکی د یوه یا دوو مفکورو پیژندلو توان لري خو پر ارتباط او اهمیت یې نه پوهیږي.

درجه ۳: زده کوونکې د څو مهمو مفکورو پیژندلو توان لري او ارتباط او اهمیت یې هم پیژني. (د بیلګې په ډول، زده کوونکی وایي چې کیسه تاکل/تاکنه ازمویي او له ځینو بیلګو سره یې په خپل ژوند کې په آسانه ښودلای هم شي خو له ډېر ژور فکر پرته.)

درجه ۴: زده کوونکی له ژور فکر سره مهمې مفکورې او له خپل ژوند سره د هغې ارتباط او اهمیت یې پیژني. (د بیلګې په ډول، زده کوونکی وایي چې کیسه د هر عمل پایلې منعکسوي مخکې لدې چې مورږ له ځان سره له فکر وړاندې عمل ته لاس واچوو. دا د زده کوونکي لپاره مهم دی څکه دا هغه پدې فکر مجبوروي چې څرنګه ځینې وختونه هغه د حالاتو له څېړلو پرته راساً (له فکر پرته) نتیجې/ عمل ته ټوپ وهي.)

پنځمه ورځ : د مهمو مفکورو لپاره د کیسې تکرارول/ ارزول - دوهمه برخه

دا له زده کوونکو سره د کیسې دوهم ځل ارزولو لپاره ځینې بیلګې دي.

درس ته تیاری

- د مراجعې لپاره د څلورمې ورځې "**په کې اصل لوبغاړي او د پیښو لړۍ**" لیسټ له ځان سره ولرئ. که وخت ولرئ، نو د زده کوونکو ذهن تازه کولو لپاره تاسې ممکن د فعالیتونو له پیل وړاندې د دې لیسټ پر کارولو کیسه یو ځغلنده نظر ولولئ.

- د لومړي ګام لپاره، د کیسې پر کارولو، "د تاکنو باره کې د فکر دوه لاری" ځینې بیلګې (یا لاندینو) څخه یو څه تیار کړئ. دا بیلګې زده کوونکو ته د ویشلو لپاره تیارې کړئ یا د زده کوونکو لوستلو لپاره پر لویه تخته یا پانه ولیکئ.

- که تاسې په درېیم ګام کې د "مکالمې لیکلو" تمرین ټاکئ، نو پر تخته یا پر پاڼه یې بیلګې برابرې کړئ.
- د "جادویي آس" کتاب له ځان سره ولرئ.
- باوري کړئ چې هر زده کوونکی د دې فعالیت او کورنۍ کار لپاره کتاب، د هغوی د کمپوزیشن کتاب (یا کرښې لرونکی پاڼه) او پنسل ولري.
- دا فعالیتونه باید د ځلورمې ورځې فعالیتونو پسې ژر تر ژره اجرا شي تر څو د کیسې مهمې مفکورې سره ونښلوي.

د مهمو مفکورو معلومول - خپلې ټاکنې کول

زده کوونکو ته وریاده کړئ چې د "جادویی آس" کیسه ډیرې مهمې مفکورې لري، او په اخیري تمرین کې دوی یوه مهمه مفکوره په کیسه کې د لوبغاړو ټاکنې چې باید کړي یې وای وځیرلی. زده کوونکو ته ووایاست چې د نن بحث موضوع زمونږ د اخیري تمرین پر موضوع اساس ده او د نن موضوع زمونږ خپله ټاکنې دي.

۱. د ټاکنو/ خوښونو باره کې د فکر دوه لارې

نو زده کوونکي د فکر دوو لارو تر منځ پر توپیر ورو ورو پوهیږي، او د اکثره حالاتو لپاره دواړو لارو اړتیا وي، د بیلګو تیاره شوې پاڼه وویشئ یا پر تخته یا پر پاڼه لیکل شوی بیلګې وکاروئ. ووایاست:

لکه څرنګه چې کیسه ښایي، ټاکنې/ خوښونې له دوه ډوله فکرونو سره کیږي: منطقي فکر او مبتکر فکر

"منطقي فکر" هغه دی کله چې یو څه ته د پخوا شوي کار نتیجه وویل شي.

"مبتکر فکر" د ټول حالت پوهه ښودل دي.

دلته د کیسې د لوبغاړو پر کارولو د دې دواړه ډوله فکرونو ځینې بیلګې ذکر شوي دي.

ښوونکي کېدو لپاره

د هوښیار ټاکنه (منطقي فکر)

"زما ښوونکي خوښیږي او فکر کوم چې مهمه دنده پرمخ بیایي، نو غواړم چې ښوونکی شم. نو ځکه زه به په ښوونځي کې ډېر کار وکړم او پوهنتون ته به ولاړ شم. زه به ډیر مضامین ښه ولولم تر څو یې خپلو زده کوونکو ته وښودلای شم."

د تنبل ټاکنه (مبتکر فکر)

"زه چې کله ښوونکی شم، نو زه باید پر خپلو زده کوونکو او زده کړې ته د هغوی احساس پر څرنګوالي پوه شم، تر څو له هغوی سره چې د زده کړې د توان په لار کې ستونزې لري، سره مرسته وکولای شم."

ډاکټر کیدو لپاره

د هوښیار ټاکنه (منطقي فکر)

" زه غواړم چې ډاکټر شم، ځکه زما نه خوښخیږي چې یو څوک دې ناروغ وي او د مرستې لپاره څوک و نه لري. نو ځکه زه به په ښوونځي کې هڅه وکړم او پوهنتون ته به ولاړ شم. زه باید ډیر مضامین ولولم، د بیلګې په ډول، بشري بیالوژي، ریاضیات، کیمیا چې دا ټول له ما سره زما په هدف کې مرسته کوي."

تنبل ټاکنه (مبتکر فکر)

"د ښه ډاکټر کیدو لپاره زه باید پر نورو خلکو پوه شم او څه ته اړتیا لري تر څو له ما سره مرسته وکړي چې پرې پوه شم/ احساس یې کړم او ورنږدې شم په ځانګړي ډول په هغه وختونو کې چې کله دوی ځان نه شي بیانولی."

د شاعر کیدو لپاره

د هوښیار ټاکنه (منطقي فکر)

"زما شاعري لیکل خوښیږي او غواړم چې ډېر ښه شاعر شم، نو ښه لیکنه باید زده کړم، خپل لغاتونه ډیر کړم، او ورسره د افغانستان د مشهورو شاعرانو شاعري هم ولولم."

د تنبل ټاکنه (مبتکر فکر)

" د ښه شاعر کیدو لپاره، زه باید ډیر وخت یوازې واوسم، خپل هنر تمرین کړم او پوه شم چې څه راته تر هرڅه مهم دي تر څو وکولای شم چې مبتکر/ خلاق کار وکړای شم."

۲. زده کوونکو ته ووایاست چې څرنګه د جادویی آس کیسه مورږ ته ښیي چې د ژونده مهمو ټاکنو لپاره څرنګه منطقي فکر او مبتکر فکر دواړه یوځای وکاروو. دا ډول فکر له مورږ سره مرسته کوي چې پر غلطو انګیرنو پرېکړې ونه کړو. د پورته لومړي ګام بیلګو د لارښود په توګه کارولو سره، له زده کوونکو وغواړئ چې له ځانه یوه مفکوره جوړه کړي چې د مهمو ټاکنو په کولو کې دواړه ډول فکر کول وښیي. له زده کوونکو وغواړئ چې د خپلو مفکورو باره کې له خپل ملګري سره وغږیږي. وروسته، که وغواړي نو زده کوونکي کولای شي خپلې بیلګې له ټولګي سره هم شریکې کړي.

۳. له زده کوونکو وغواړئ چې د مهمو ټاکنو کولو لپاره له یو زیات ډول فکر کولو په اړه مکالمه/ ډایلاګ یا خپلې مفکورې ولیکي. که زده کوونکي له ډایلاګ لیکلو سره نابلده وي، تاسې ممکن پر لویه پانه یا تخته ورته یوڅه بیلګې ولیکئ. که غوښتې یې وي نو خپلې لیکنې له ټولګي سره هم شریکولی شي.

۴. زده کوونکي به وغواړي چې خپلې لیکنې وښیي چې متن او عکسونه دواړه ولري یا کولای شي له ډایلاګ سره د رسامیو کتابګوتی جوړ کړي.

۵. که زده کوونکي د خپلو ډایلاګونو اجرا کول خوښ کړي، نو که وخت ولرئ پرې یې بډئ چې اجرا یې کړي.



لغتونو کورنی کار: [*له زده کوونکو وغواړئ چې خپل کتابونه او پنسلونه له ځانه سره کور ته یوسي. وریاده کړئ چې بیرته یې بیا له ځانه سره ټولګي ته راوړي.*]

الف: له زده کوونکو وغواړئ چې د هغو ټاکنو باره کې فکر وکړي چې دوی خپلو اهدافو ته رسیدو لپاره ورته اړتیا لري، په ځانګړي ډول هغه چې دوی ته ډیر مهم وي. ورته وړاندیز وکړئ چې په خپلو کمپوزیشن کتابونو (یا د لیکلو پر یوه پانه) دوه کالمه جوړ کړي لکه چې مو په څلورمه ورځ په ټولګي کې وکړل. ورځخه وغواړئ چې یو کالم د "زما اهداف" او بل د "زما ټاکنې" پر نامه ونوموي، چیرې چې به دوی هغه څه ولیکي چې له دوی سره د دوی اهدافو په لاسته راوړلو کې مرسته کوي.

ب: زده کوونکو ته وریاده کړئ چې دوی به ممکن د نورو مهمو مفکورو، ماخذونو یا کیسې کې معناوو باره کې هم فکر کړی وي چې وبه غواړي په خپل کمپوزیشن کتابونو کې یې ولیکي. که وغواړي نو کولای شي چې رسمونه هم ورته وباسي.

ارزونه: **د مهمو مفکورو معلومول او وربانديې لیکل (ډایلاګ لیکل، پرې فکر کول او برابرول)**

درجه ۱: هغه زده کوونکی چې په کیسه کې د اصلي مفکورو په پیژندلو کې ستونزه ولري نو هغوی مباحثه هم نشي ترکیبولی.

درجه ۲: زده کوونکی یوه یا دوه مهمې مفکورې پیژندلی شي خو نشي کولای چې په خپله لیکنه کې یې ارتباط او اهمیت معلوم کړي.

درجه ۳: زده کوونکی څو مهمې مفکورې پیژني او ارتباط او اهمیت هم معلومولی شي او ورسره ډایلاګ هم برابرولی شي. (د بیلګې په ډول، زده کوونکی وایي چې کیسه د خلکو په ژوند کې د مهمو شیانو باره کې د ټاکنو په ښودلو کې مرسته کوي، او زده کوونکی د ځینو ټاکنو کول رایادوي چې ممکن کومه ورځ به مهم شي.)

درجه ۴: زده کوونکی له ژورې پوهې سره مهمې مفکورې معلومولی او د خپل ژوند له پیښو سره یې پرتله په لیکنه کې ښودلی شي. (د بیلګې په ډول، زده کوونکی وایي چې کیسه ورسره مرسته کوي چې د ټاکنو کولو لپاره ضروري فکر کول وازمویي او هغه به نه یوازې چې منطقي فکر وکاروي بلکې د ژوند په لویو ټاکنو کې به له مبتکر فکر کولو هم ګټه واخلي.)

شپږمه ورځ: آزاده مطالعه

د کورني کار ارزونه: که فکر کوئ چې وخت لرئ، له زده کوونکو وغواړئ که کوم یو غواړي چې په خپل کمپوزیشن کتاب کې یې څه لیکلي وي هغه ولولي: د اهدافو لاسته راوړلو او خپل زړه ارمان حاصلولو لپاره د اړتیا وړ ټاکني. زده کوونکي د شریکولو له کبله تقدیر کړئ او نور وهڅوئ چې په کور کې کار وکړي. یو ځل، بیا زده کوونکو ته ووایاست چې بهتره به وي چې هر کله وخت ولري په کور کې تمرین وکړي. وریاده کړئ، چې تمرین به یې ښه لیکوالان کړي.

درس ته تیاری

- د الف۱ ګام ته تیاري لپاره، وبه غواړئ چې زده کوونکي د درس له پیل وړاندې د دریو په جوړو یا ډلو وویشئ تر څو هغوی پوه شي چې له چا سره وغږیږي وروسته لدې چې تاسې لارښوونې ورته وکړئ.
- د هر زده کوونکي یا زده کوونکو ډلې لپاره کتابونه ولرئ
- غږ ماشین تیار کړئ، که لرئ یې، د کیسې سي ډي یا کیسه وروا‌چوئ.
- د ب۳ ګام لپاره، د هر زده کوونکي لپاره پاڼه او پنسلونه یا د زده کوونکو کمپوزیشن کتابونه ولرئ.
- درس ولولئ تر څو پوه شئ چې ګامونه تعقیب کړئ.

زده کوونکي راواغواړئ چې خپله کیسه یو ځل بیا ولولي، دا ځل په آزاده توګه له خپلو کتابونو څخه. هغوی چې پخپله آزاد لوستلو کې ستونزه لري له یو چا سره یې یو کړئ چې په لوستلو کې ښه وي، که د غږ ماشین لرئ نو ورته وړاندیز وکړئ چې د کیسې غږیزه ډول تعقیب کړي. د بحث پر مهال زده کوونکو ته ووایاست، چې تاسې نه غواړئ

هغوی امتحان کړئ نه ټول ځوابونه لرئ، بلکې یوازې غواړئ چې لدوی سره یوځای د لوړې مفکورې او غټ موضوعات راوسپړئ او دوی په څېر پرې غږیدو ته لیواله یاست.

په لوړ غږ د کیسې لوستنه

که مو زده کوونکي لوستل کولای شي، او کیسه یې څوځله اوربدلې وي، له هغوی غوښتنه وکړئ چې له ځان سره د کیسې د لوستلو تمرین وکړي. که په یوه درس کې د ټولې کیسې لوستلو وخت نه وي، نو کولای شئ چې کیسه پر دوو برخو وویشئ لکه چې موږ په لومړۍ او دوهمه ورځ وکړل. که داسې وشي، موږ وړاندیز کوو مخکې لدې چې دوهمې برخې درس پیل کړئ له زده کوونکو د تیرې برخې باره کې وپوښتئ چې څه پکې شوي وو.

دا به غوره وي چې هغوی په لومړي سر کې دوه دوه کار وکړي او کیسه له لاندې طریقو په یوه طریقه ولولي:

۱. زده کوونکي کیسه په وار ولولي. یو زده کوونکی یوه پاڼه لولي؛ او بل بله پاڼه، او همداسې دوام ورکوي ترڅو کیسه پای ته ورسېږي.

۲. زده کوونکي کیسه په ګډه او په یوه غږ لولي.

۳. هر زده کوونکی کیسه په وار، له سره تر پایه لولي.

په بیا بیا تمرین سره به، ګڼ زده کوونکي د کیسې اسانه او روانه لوستنه زده کړي، او ځینې به یې ښایي ټول ټولګي ته د کیسې له فردي او یوځایي لوستلو خوند واخلي.

د مهارت د انکشاف اندازه کول: په لوړ غږ د قصې لوستل

درجه ۱: زده کوونکی نه شي کولای چې ان د ښوونکي په مرسته قصه ولولي او یا د قصې کوم لغت یې په یاد وي.
درجه ۲: زده کوونکی کولای شي چې قصه ولولي خو روانه یې نه شي لوستلای. داسې معلومیږي زده کوونکی چې څه لولي په هغو ښه نه پوهیږي. معلومیږي چې هغه یې میخانیکی زده کړي وي.
درجه ۳: زده کوونکی قصه په احساساتو سره بیانولای شي، او معلومیږي هغه لغتونه چې لولي په پوهیږي.
درجه ۴: زده کوونکی په خورا ښه ډول قصه بیانولای شي، د قصې لوستلو کې رواني یې بې ساري ده، او داسې ښکاري چې قصه راڅوندۍ شوې وي.

د نورو مهمو مفکورو معلومول

د اخیري فعالیت په توګه، له زده کوونکو وپوښتئ څرنګه چې دا کیسې ډیرې مهمې مفکورې لري، نو آیا په کیسه کې داسې نورې مهمې مفکورې شته چې دوی غواړي له ټولګي سره پرې وغږیږي. دوی ممکن وغواړي چې خپلې مفکورې په خپل کمپوزیشن کتابونو کې ولیکي. که وغواړي نو رسامي هم ورته کولای شي. (که وخت کم وي، نو دا مهم فعالیت په کور کې هم اجرا کیدلای شي.)

زده کوونکو ته وواياست که نورې مفکورې، انګيزې يا معناوې اوس نه ورپه يادېږي، نو وروسته يې هم يادولای شي ځکه چې اوس پر کيسه ښه بلد شو او په يادە به يې پاتې شي. خپل زده کوونکي وهڅوئ چې دا تمرين د هوپو او نورو ولسي کيسو سره هم اجرا کړي. ورته وړاندیز وکړئ چې دوی کيسې ولولي بيا يې په کورنۍ او ملګرو کې نورو ته وکړي تر څو د دې با ارزښته افغاني دود په بيرته راژوندي کيدو کې يې مرسته کړي وي.

اوومه او اتمه ورځ

د اوومه او اتمه ورځ، ورځې لپاره له لاندې دوو برخو "د ټولګي يا کور نور فعاليتونه" څخه د کيسې اړوندې کړنې انتخاب کړئ. هغه کړنې غوره کړئ چې ستاسې په نظر ستاسې د زده کوونکيو لپاره ډېرې مناسبې برېښي. که ستاسې زده کوونکي مختلف مهارتونه او خوښې لري، نو کولای شئ پر ځينو زده کوونکيو يو ډول او پر ځينو نورو بل ډول کړنې ترسره کړئ. که په ټولګي کې د ټولو فعاليتونو اجرا لپاره مناسب وخت نه وي، تاسې زده کوونکو ته وړاندیز کولای شي که وخت ولري نو په کور کې يې کولای شي.

د ټولګي يا کور نور فعاليتونه

کله چې مو لومړي ځلور درسونه ختم کړل، رسونې وروسته له صنف سره ځينې داسې کړنې عملي کړئ چې له زده کوونکيو سره د "جادويي آس" د کيسې په ژوره پوهه کې مرسته وکړئ او د هغوی د ليک لوست مهارتونه غښتلي کړي. د دې برخې کړنې د همدې غرض لپاره کارولای شئ. ځينې دغه کړنې د ټولو عمرونو د ماشومانو لپاره مناسبې دي. ځينې نورې يې د داسې ماشومانو لپاره دي چې له وړاندې په اسانۍ سره ليک لوست کولای شي. کله مو هم چې فکر وکړ، د ماشومانو لپاره د دې کړنو تکرار په زړه پورې دی، کولای شئ تر يوه زيات ځله يې تکرار کړئ.

د کورني کار ارزونه: د ټولګي په پيل کې وخت ولرئ نو له زده کوونکو وپوښتئ چې که چيرې غواړي چې له ټولګي سره خپل د ليکنې کار شريک کړي. زده کوونکي د خپل کار شريکولو له لامله ونازوئ او نور وهڅوئ چې هغوی يې هم وليکي. زده کوونکو ته وواياست چې هر کله وخت ولري نو دا يو ښه تمرين دی. وريادە کړئ چې تمرين به دوی ښه ليکوالان کړي.

الف: کښنه(رسم) او نکل کول

زده کوونکي کولای شي، د "جادويي آس" په اړه خپله پوهه د کيسې د صحنو په رسمولو، او تاسې او يو بل ته د کيسې په بيانولو سره غښتلې کړي. هر زده کوونکی به مختلف هنري قابليتونه ولري، دا فعاليت به هر زده کوونکی د هغوی د هنري قابليتونو په نظر کې نيولو پرته، د قصې په بياويلو کې په ټوکيز او انفرادي شکل کې ورګډ کړي. د دې کړنې اندازه کولو ته ضرورت نشته. د داسې کولو لپاره ځينې ګټور ګامونه لاندې بيان شوي.

- هر زده کوونکي لپاره پاڼه او پنسل يا رنګه پنسلونه ولرئ. زده کوونکي به غواړي چې پخپله جوړ کړی کتاب د رسامیو لپاره وکاروي.

۱. زده کوونکي په دوه کسيزه ډلو ووېشئ. (که د ټولګي د شاګردانو شمېر طاق وي، نو يوه درې کسيزه ډله پکې جوړه کړئ.)

۲. کتاب داسې پورته ونيسئ چې زده کوونکي يې پوښ وليدلای شي او وواياست:

د "جادويي آس" کيسې په باره کې فکر وکړئ. له قصې څخه يوه صحنه د رسمولو لپاره غوره کړئ. کومه صحنه به تاسې رسم کړئ؟ په هغې صحنه کې فکر وکړئ، او داسې يې څانته مجسمه کړئ چې په شئ څه شی مو بايد په انځور کې شامل وي. يقيني کړئ چې انځور مو تفصيلي دی، او ډېر څه بيانوي.

۳. له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې خپلو سيالو (نورو زده کوونکيو) ته د هغې صحنې په اړه چې رسمول يې غواړي، او هغه ځيزونه چې په انځور کې يې شاملول غواړي، معلومات ورکړي. د رسمونو په اړه خبرې اترې به هغوی تشويق کړي چې د خپلو رسمونو سمه پلانجوړونه وکړي، او د هغه څه په اړه ښه فکر وکړي، چې په انځور کې يې شاملول غواړي.

۴. زده کوونکيو ته پانې او د رسم وسايل، لکه پنسل، يا رنګې ور ووېشئ، او زده کوونکيو ته ووايئ چې رسمول پيل کړي. ممکن زده کوونکي به وغواړي چې خپل جوړ شوو کتابونو کې رسامي وکړي. تاسې کولای شئ د هغوی په منځ کې وګرځئ راوګرځئ او له هغو څخه د هغوی د رسمونو او د هغو د انتخاب د لاملونو په اړه پوښتنې وکړئ. تاسې بايد هلکان دې ته وهڅوئ چې يو بل ته د کيسې او خپلو رسمونو په اړه وغږېږي.

۵. کله چې زده کوونکي خپل رسمونه خلاص کړي، لاندې يوه يا زياتې کړنې ترسره کړئ:



- ټولې رسامۍ د ټولګي په ديوال څليبنډ کړئ. که زده کوونکو خپل کتاب کارولی وي نو هر زده کوونکی د ټولګي مخې ته ولېږئ او ورته ووايئ چې خپلې رسامۍ وښايي. درې يا څلور زده کوونکي د ديوال رسامیو ته په وار واستوئ (يا ورځخه وغواړئ چې خپلې رسامۍ وښيي)، هر انځور ته په اشاره ټولګي ته ووايي چې رسامۍ يې د څه معنا لري. هره ورځ تر څو ورځو لپاره همداسې پر درې يا څلورو زده کوونکو دا کرار تکرار کړئ تر څو چې ټولو خپل رسمونه ښودلي وي.

- ټول رسمونه راټول کړئ. يوځو يې انتخاب کړئ، چې د کيسې مهمې صحنې بيانوي؛ يو يا دوه د کيسې له پيل څخه، يو يا دوه، د کيسې له مينځه، او يو يا دوه د کيسې له پايه. دغه ټاکلي رسمونه په بې ترتيبه توګه پر دېوال سرېښ کړئ، او له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې صحيح ترتيب يې معلوم کړي. د زده کوونکيو په خوښه او فرمايش رسمونو ته حرکت ورکړئ، ترهغو چې ټول راضي او قانع شي چې انځورونه په سم ترتيب اېښودل شوي دي. په راتلونکيو څو ورځو کې د رسمونو له اصلي مجموعې څخه د رسمونو يوه بله مجموعه انتخاب کړئ، او بياهم له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې سم ترتيب يې معلوم او تعيين کړي. (که زده کوونکي پخپله جوړ کړي کتابونه کارولي وي، څلور يا پنځه زده کوونکي د ټولګي وړاندې ته د خپلو رسامیو ښودلو لپاره راوغواړئ. د ټولګي له زده کوونکو وپوښتئ چې زده کوونکي بايد چېرې ودرېږي تر څو په مناسب ترتيب برابر شي.)

- ټول رسمونه رایوځای کړئ. د کیسې د ترتیب مطابق یې ترتیب کړئ او سره ویې ترئ، چې صنفي کتاب ورځخه جوړ شي. که انځورونه زیات وي نو کولای شئ تر یوه زیات بنډلونه یا کتابونه جوړ کړئ. کتاب په ټولګي کې وساتئ او له زده کوونکیو غوښتنه وکړئ چې د همدې کتاب په مرسته، په رسمونو کې د بیان شویو صحنو په اړه د خبرو له لارې په وړو ګروپونو کې او یا د ټول صنف په وړاندې کیسه له سره تکرار کړي.

ب: د کیسې په اړه لیکل

که چېرته ستاسې زده کوونکي سم لیکل کولای شي، نو هغوی کولای شي د کیسې په اړه خپله پوهه د کیسې په اړه د لیکنو له لارې نوره هم پراخه کړي. لاندې ځینې لیکنیزې کړنې دي چې ستاسې زده کوونکي یې باید ترسره کړای شي. که فکر کوئ چې زده کوونکیو ته مو په زړه پورې ده، نو تر یوې زیاتې لیکنیزې کړنې وکاروئ. که تاسې د دې فعالیتونو لپاره په ټولګي کې وخت نه لرئ، نو زده کوونکي وهڅوئ چې د وخت په صورت کې دا تمرینونه په کور کې اجرا کړي. ورته ووایاست چې تمرین به لدوی ښه لیکوالان جوړ کړي.

- د هر زده کوونکي لپاره پانه یا کمپوزیشن کتاب او پنسل ولرئ.

۱. له زده کوونکو وغواړئ چې فکر وکړي دوی تنبل دي او هغه څه باره کې ولیکي چې د ځان، کورنیو او هیواد لپاره یې تر ټولو ډېر غواړي. دا به هغه څه وي چې زده کوونکی یې د ځان لپاره لیکي یا که وغواړي نو له ملګرو، کورنۍ او ټولګي سره یې هم شریکولی شي.

۲. زده کوونکو ته ووایاست، *"په کیسه کې د خپلې خوښې څېره وتاکئ. په لیکنه کې دغه څېره تشریح کړئ او دا هم بیان کړئ چې دا څېره ولې ستاسې خوښه ده".*

۳. زده کوونکو ته ووایاست، *"آیا دا کیسه تاسې ته ستاسې د ژوند کومه پېښه یا څوک دریادوي؟ ولیکئ چې څرنګه کیسه او ستاسې ژوند سره یوشان دي".*

۴. داسې فکر وکړئ چې دا کیسه تکمله او منطقي تسلسل لري یعنې، یوه بله کیسه چې د دې کیسې په پای کې پیلېږي. دا چې په دې بله کیسه کې به څه پېښېږي، او پای به څه وي، په دې اړه لیکنه وکړئ. داسې ووایاست چې:

د کیسې په پای کې، تنبل او شهزادګی ګرانه ملغلره د سیمې واکمنان شي او شهزاده هوښیار همداسې د خپل حیرانوونکي کب له چارو سره بوخت پاتې کیږي. څه په زړه پورې او حیرانوونکي کارونه فکر کوئ چې لدې وروسته به دې لوبغاړو ته ورپېښ شي؟

۵. له هغوی وغواړئ چې له کیسې یو لوبغاړې خوښ او په باره کې یې داسې صحنه ولیکي لکه چې دوی پخپله همدا لوبغاړې وي. دوی باید هڅه وکړي د صحنې پېښیدو پر مهال خپل فکر بیان کړي.

د بیلګې په ډول، تاسې ممکن ووایاست:

دا پراګراف به زه درته د بیلګې په ډول بیان کړم، ما ولیکل چې تنبل به څه فکر کاوه کله چې هغه په صحرا کې په ناهیلی سره ورک شو. (ورپسې، لاندینې زده کوونکو ته لوړ ولولئ.)

"دا مې څه وکړل؟" تنبل له ځان سره وژړل "دا څه په جنجال واوښتم؟ ما باید هیڅکله هم د ترکاڼ آس نه وای خوښ کړی! پر ما یې دا څه وکړل؟ دا مې ښایي ځکه خوښ کړی تر څو له خپله وروره بیل واوسم؟ په رښتیا هم نه پوهیږم چې ولې ما داسې فکر وکړ چې د ترکاڼ مفکوره به دومره ښه وي – اوس چې پرې فکر کوم هیڅ منطق نه لري. څه احمق وم! فکر کوم دا یو احمقانه فکر دی چې هغه ستا د زړه ارمان معلومولی او ورته دې ورسولی شي – پداسې حال کې چې زه پوهیږم زما د زړه ارمان شهزادګۍ ګرانه ملغلره ده. دا ارمان به هیڅکله بدل نه شي – خو اوس ما ته وګوره، زه څومره امکان لرم چې زه به له هغې سره یوځای شم.

"خو ورپسې هغه دومره په زړه پورې وو چې پر لرګین آس کښینم او هر لورې ته چې مې زړه یې ولاړ شم او ډېر فخر هم کوم چې زه یوازینی کس وم چې د ترکاڼ پر خبره مې باور وکړ. جادویی آس ډېرو بیلابیلو ځایونو ته یوړم، او فکر کوم چې د دومره سفرونو له تجربو او ځایونو څخه مې د ژوند او خلکو باره کې ډېر څه زده کړل. خو اوس ما ته وګوره.

"سمه ده چې د زړه ارمان مې وموند خو څرګنده ده چې نه پوهیږم څرنګه د هغې واده د بل جادوګر باچا له زوی سره منع کړم، لدې صحرا څخه د وتلو خبره خو په ځای پریږده. زه باید د هغې د هیواد د حالاتو له کبله له خپل هدفه بې پروا شوی نه وای. زه باید راساً د هغه پلار حرمسرای ته تللی وای او ورسره غږیدلای وای. بلکه څه مې وکړل؟ زه هلته ډېر ناوخته ولاړم او ویده شوم! د خدای لپاره آس ولې راویښ نه کړم؟ دا څرنګه جادویي آس دی؟ فکر کوم چې خوشبخته یم چې ژوندی راوتښتیدم، خو پدې صحرا کې له څو ورځو راهیسې ګرځم راګرځم او ورک یم. هیڅ اوبه او خوراک نه لرم، زه څرنګه د بل شګلن توپان له شپې ژوندی راوتلی شم؟ آیا خوب وینم؟ دا بڼ ته ډېر ورته دی، شنې وڼې هم لري... هلته به حتمي اوبه هم وي!"

د مهارت د انکشاف اندازه کول: د قصې په اړه لیکل

درجه ۱: زده کوونکی نه شي کولای چې دا څرګند کړي چې د قصې د پیښو، احساساتو او افکارو په اړه د څه لیکلو قابلیت لري.

درجه ۲: زده کوونکی کولای شي چې دا څرګند کړي چې د قصې د کرکترونو د پیښو، احساساتو او افکارو په اړه د یو څه لیکلو قابلیت لري. د لیکل شوو حالاتو د ممکنه لاس ته راوړنو وړاندوینې لپاره د ښوونکي مرستې ته اړتیا وي.

درجه ۳: زده کوونکی د قصې د کرکترونو د پیښو، احساساتو او افکارو په اړه لیکلی شي او د لیکل شوو حالاتو د ممکنه لاس ته راوړنو ضروري جزئیات تشریح کولای شي.

درجه ۴: هغه زده کوونکي چې هغه لغاتونه پیژني، کوم چې ورته درس ورکړل شوی دی، هغوی په کوم عبارت کې استعمالولای شي، او پوهیږي او د څو لغاتونو د بیلګو په اړه فکر کوي.

ت: په ځانګړې اډا د کیسې لوستنه

په ځانګړې اډا د کیسې د لوستنې معنا، کتاب ته له کتنې پرته په خپلو الفاظو د کیسې ژبنۍ لوستنه ده په بله وینا د "قصه ویونکي" په صفت په لاندې طریقو کولای شئ له زده کوونکیو سره د کیسې لوستنې د زده کړې په برخه کې مرسته وکړئ.

- هر زده کوونکي یا زده کوونکو ډلې لپاره د " جادویي آس".

۱. د کیسې لومړۍ او وروستۍ جمله ولیکئ. دا جملې پر تخته ولیکئ، او یا یې پر یوه پاڼه ولیکئ او پر دېوال یې سرېښ کړئ، چې زده کوونکي یې ووینې:



پخوا- خو نه ډېر پخوا – زمانه کې یوه سیمه وه چې خلک یې ډېر خوښ او هوسا وو.

دا وینا څه داسې ده " هغوی چې کب غواړي له کب سره ډېر څه لاسته راوړلای شي او هغوی چې د خپل زړه له هیلې خبر نه دي لومړی باید د لرګین اس کیسه واوري. "

۲. زده کوونکیو ته ووایاست چې تاسې غواړئ هغوی دې کیسه په خپلو الفاظو سرتړپایه ولولي، خو هغوی باید هغه لومړۍ او دوهمه جمله ونه لیکي چې تاسې لیکلې.

۳. له زده کوونکیو غوښتنه وکړئ چې په فردي توګه، یا له ملګري یا ډلې سره په ګډه، د کیسې پېښې سره په زړه کړي، او یو له بل سره په خپلو الفاظو د کیسې په راجوړولو کې مرسته وکړي. که اړتیا وي نو پریږدئ چې کتاب یا له ځلورمې ورځې څخه د اصل لوبغاړو او پېښو لړۍ لیست یو ځل بیا وګوري. یا زده کوونکیو ته مشوره ورکړئ چې یو لړ داسې انځورونه جوړې کړي چې د کیسې د اصلي صحنو د په وریادولو کې ورسره مرسته وکړي.

۴. د کیسې د مشق او تمرین لپاره زده کوونکي په وړو ګروپونو ووېشئ. کله چې په ګروپونو کې سره کښېني، نو باید په نوبت سره کیسه په خپلو لفظونو کې بیان کړي، او نور غړي ورته غوږ ونیسي. (د ګروپي کار له لارې به څو کسه زده کوونکي په یوه وخت کې د ټولګي په کار کې برخه اخلي). په وړو ګروپونو کې غوږ اېښودونکي باید په توجه غوږ ونیسي، او که د کیسه کوونکي څه له یاده وځي، نو ور په یاد یې کړي. هر هلک باید له ټولګي د باندې، د کیسې تر تمرین وړاندې په صنف کې دوه یا درې ځله د هغې تمرین وکړي. دغه تمرین ښایي دوه یا درې اونۍ وخت ونیسي.

۵. کله چې زده کوونکي داسې احساس کړي چې نور چمتو دي، نو له هغوی څخه یو څو خپل خوښې (رضاکار) را وبولئ چې د ښوونځي یوه بل ټولګي ته کیسه وکړي. (د بل صنف په وړاندې د کیسې په ځانګړې اډا لوستل به یو ښه ساتېرى او د شاباسي وړ وي!). اړینه نه ده چې هر هلک دې کیسه ولولي. ځینې هلکان ښایي شرمناک وي، چې په هغه صورت کې باید د ټولګي په مخ کې کیسه کولو ته اړ نه ایستل شي.

د مهارت د انکشاف اندازه کول: د قصې بیا ویل لکه د قصه ویونکي په څیر

درجه ۱: زده کوونکی نه شي کولای چې ان د ښوونکي په مرسته قصه ووایی.

درجه ۲: زده کوونکی کولای شي چې د قصې اساسي ټکي بیان کړي خو بې نظمه او بې جوړښته وي، او کله کله یې ژبه هم بندیږي. معلومیږي چې هغه یې میخانیکی زده کړي وي.

درجه ۳: زده کوونکی قصه بیانولای شي، د قصې ټول عناصر په وضاحت ویلای شي. قصه ویل یې مناسب دي او لغاتونه یې تخلیقي دي.
درجه ۴: زده کوونکی په خورا ښه ژبه قصه بیانولای شي. خبرې کوونکی کیدای شي په طنزیه، احساساتی، تخیلي اویا خوښۍ باندې قصه بیا ووایي.

د: د نندارې (تمثیل) په بڼه د کیسې وړاندې کول

زده کوونکي کولای شي د خپل ټولګي، یا د کوم بل ټولګي په مخ کې د کیسې د نارسمي تمثیل له لارې د کیسې په اړه خپله پوهه غښتلې کړي، او کیسه په خپل تعبیر خلکو ته وړاندې کړي.

زده کوونکي د تمثیل لپاره ځانګړیو جامو یا وسایلو ته اړتیا نه لري. هغوی دې یوائې د کیسې د څېرو ویناوې ووایي، او د صحنو د تمثیل په ترڅ کې دې له حرکاتو او اشارو کارواخلي، یا کولای شي ځینې ساده وسایل هم وکاروي.
تاسې باید د تمثیلي پارچې د ډایرکټر یا لارښود په توګه، هغوی ته لارښوونې او مشورې ورکړئ، خو له یو یا دوه ځله تمرین وروسته به هغوی خپله وغواړي چې کیسه بیا بیا تکرار کړي، او له هرځل تکرار سره به زدکوونکي نور هم تکړه کېږي. لاندې د تمثیلي پارچې په بڼه د کیسې د پیلولو ځینې لارې چارې بیانېږي:

۱. زده کوونکیو ته ووایاست چې دا ځل به هغوی کیسه د تمثیلي پارچې په بڼه وړاندې کوي. هغوی ته یې روښانه کړئ چې ځینې زده کوونکي به تمثیلګران، او ځینې نور به یې نندارچیان وي، او هر ډګر به دواړه کرداره ترسره کړي.

۲. وروسته، په یو ستون کې د کیسې ټولې څېرې پر یوه تخته یا په یوه لویه پاڼې په یوه لست کې ولیکئ، داسې چې ټول یې ولیدلای شي:

ممکن باچا	ګرانه مرغلره
تنبل	جادوګرزاده
شهزاده هوښیار	هوښیار وزیرور سړی
پښې	د باچا کاروان
ترکاڼ	
کاهانا باچا (جادوګر باچا)	

ورسره، د سیمې خلک، د دربار خلک، مزدوران او د باچاهانو او شهزاده ګانو خادمین/ کارکوونکی

پر یوې یوې څېرې تېر شئ، او د هغې د کردار د تمثیل لپاره د هلکانو له منځه خپل خوښې (رضاکار) ممثل راوبولئ. داسې ووایاست: *"څوک غواړي زموږ په ډرامه کې د تنبل رول ولوبوي؟"* په خپله خوښه انتخاب وکړئ ، او نوم یې د څېرې له نوم سره جوخت ولیکئ. دې کار ته تر هغو دوام ورکړئ چې د هرې برخې د تمثیل لپاره زده کوونکی پیدا کړئ. ممثلینو ته ووایاست چې هر ممثل به خپله برخه په خپله راجوړوي. د دې معنا دا ده چې هغوی دې د کتاب خبرې اترې نه کاروي، بلکې خپل الفاظ دې ورته جوړ کړي.

۳. هغوی ته ووایاست چې تاسې به دغه تمثیل څو ځله په صنف کې تکرار کړئ، او هر هلک به د تمثیل فرصت ترلاسه کړي. هغوی ته ووایاست، هر هغه زده کوونکی چې په تمثیل کې برخه نه اخلي، د اورېدونکي په حیث هماغه

اندازه مهم کردار ترسره کوي. څرګنده يې کړئ چې تاسې به د تمثيلي پارچې د ډايرکټر يا لارښود دنده ترسره کوئ او هغوی ته به د تمثيل د ښه او غوره پرمختګ لپاره مشورې او لارښوونې کوئ، خو هغوی بايد کيسه په خپل تعبير تمثيل کړي. يعني هغوی بايد د هرې صحنې په تمثيل کې خپل ځانې الفاظ، اشارې، او حرکتونه وکاروي.

۴. د کيسې د بېلابېلو صحنو د تمثيل لپاره د خونې په منځ کې ساحه تعيين کړئ (د ممکن باچا مانۍ او دربار، تاويدونکی مانۍ، دښته) او بيا له اورېدونکيو غوښتنه وکړئ چې د تمثيل ځای ته مخامخ کښېني. هغوی د صحنې له اړتيا سره سم کښېنوئ. هغه زده کوونکي چې په صحنه کې نه دي، د صحنې يوه لوري ته يې ودروئ، تر هغو چې وار يې را ورسېږي. ممثلان صحنې ته راوبولئ، او هغوی ته مخه ورکړئ چې صحنه په خپله راجوړه کړي. کله چې زده کوونکي نه پوهېږي چې څه ووايي، نو کولای شئ يوه کومکي جمله ورته ووياست، خو هيله ده چې هغوی به ژر وپوهېږي او سمه دنده به ترسره کړي.

۵. د تمثيلي پارچې په پای کې له ممثلانو غوښتنه وکړئ چې له ټولو ټولګيوالو سره د پارچې د تمثيل په اړه په بحث او تبصرو کې برخه واخلي. هغوی د لاندې پوښتنو ځوابونې ته راوبولئ:

ممثلانو کوم رول ډېر ښه تمثيل کړ؟

د ممثلانو راتلونکې ډله د تمثيل د لا ښه کولو لپاره څه کولای شي؟

اورېدونکيو کوم رول ښه ترسره کړ؟

ممثلان د راتلونکي تمثيلي پارچې د لا ښه کولو لپاره څه کولای شي ؟

۶. ډېری هلکان د کيسې د تمثيل د وار په ترلاسه کولو ډېر خوشحالېږي، او خوند ورکوي. هرځل چې نوې ډله ممثلان رائي، ويناوې به په مختلف انداز وړاندې کوي، ببلې نښې او ببل ډول حرکات به ترسره کوي ... د هغوی کړنې به له کيسې څخه د هغوی د ځانې تعبير استازيتوب کوي، او څرنګه چې هره کيسه په يوه ببله بڼه تعبيرېدای شي، نو د کردار او تمثيل ببلښت او توپير هم بايد وستايل شي، او يادونه يې وشي.

د مهارت د انکشاف اندازه کول: د نندارې (تمثيل) په بڼه د کيسې وړاندې کول

درجه ۱: زده کوونکی د تمثيل پر وخت ډيرې ورو او بې خوښته خبرې کوي، او د کرکټر غږ نه باسي، که ښوونکي ورسره مرسته هم کوي.

درجه ۲: د زده کوونکي خبرې اوريدل کېږي خو د کرکټر له غږ سره سمون نه خوري. بيان په کې نه وي موجود. تمثيل يې ژوندی نه وي.

درجه ۳: زده کوونکی يو څه واضح خبرې کوي، د کرکټر غږ استعمالوي، اوريدل کېږي او د پوهيدو وړ وي. بيان او تجسم تخيلي او د نوښت درلودونکی دی.

درجه ۴: زده کوونکی د خورا ښې ژبې د استعمال او د کرکټر رول ډېر ښه ادا کوي، په طنزيه، احساساتی، تخيلي اويا خوښی باندې ادا له کبله بيخې د اصل په څېر ښکاري.

له کورنۍ سره د کیسې شریکول

کله چې هلکان ټولې "نورې کړنې" بشپړې کړي، او د خپلې زده کړې په اړه ډاډه شي، نو سلا ورکړئ چې خپلې هڅې له کورنیو سره شریکې کړي. لاندې په دې اړه ځینې سپارښتنې وړاندې شوي:

۱. **رسامي او کیسه کول**: له زده کوونکیو غوښتنه وکړئ چې خپل رسمونه کورته یوسي. هغوی ته سپارښتنه وکړئ چې د کیسې لنډیز ترتیب کړي، او بیا هغه څه شرح کړي چې په انځور کې رسم شوې ده.

۲. **د کیسې په اړه لیکل**: کله چې زده کوونکي د کیسې په اړه لیکل بشپړ کړي، نو هغه دې کورونه ته یوسي، او خپلو کورنیو ته دې یې په لوړ غږ ولولي.

۳. **په ځانګړې ادا او وزم کیسه کول**: کله چې زده کوونکي ډاډه شول چې کیسه په روانۍ سره نورو ته بیانولای شي، او ډاډه شول چې په ځانګړې ادا او وزم یې هم لوستلای شي، نو غوښته ورڅخه وکړئ چې د خپلې کورنۍ غړیو ته یې واوروي.

۴. **د کیسې تمثیل**: که یوشمېر زده کوونکي یوځای سره اوسېږي، هغوی ته سپارښتنه وکړئ چې له ښوونځي بهر سره راټول شي، او د خپلو کورنیو په وړاندې تمثیلي نندارې ترسره کړي او یا که ممکنه وي، د کورنیو غړي ښوونځي ته را وبولي، او په ښوونځي کې ورته تمثیلي نندارې وړاندې کړي.

۵. **نورو ته د لوستلو زده کړه**: وروسته له دې نه چې زده کونکو ټول تمرینونه چې تاسې ورته د دې کتاب څخه ورکړي وو، سر ته ورسول. ځان ډاډه کړې چې هر زده کونکې خپل کتاب ولرې چې کور ته یې یوسي هغه د هغوی کتاب دې. او هر وخت چې وغواړې ولولې. تاسې کولای شې چې د هغوی څخه دا غوښتنه وکړې اوس چې هغوی دا کتاب لوستلی شي د کورنۍ نورو وکړو سره یې هم ولولې لکه خویندو وروڼو او د خپلو میندو سره.

له کورونو د کیسو راټولول

کله چې د " جادویي آس" کیسه د دې لارښود د به اساس په ټولګي تدریس کوئ، ستاسې زده کوونکي د دې فرصت لري چې له خپلو کورنیو څخه فولکلوري کیسې راټولې کړي.

۱. زده کوونکو ته ووایاست چې د هغوی د کورنۍ غړي ممکن د داسې ډیرو خلکو باره کې معلومات ولري چې په ژوند کې مهمې ټاکنې یې کړي وي کله چې مور په ټولګي کې په کیسه کې پرې بحث وکړ او تاسې غواړئ چې زده کوونکي د دې خلکو باره کې له خپلو کورنیو په ځانګړې ډول والدینو، نیکونو /نیاګانو، تریندو، ترونو /ماماګانو او نورو مشرانو څخه پر پوښتلو معلومات واخلئ چې دوی په باره کې له ولسي کیسو یا په ماشومواليي کې اوریدلي وي. هغوی ته ووایاست چې:

په کیسه کې شهزاده تنبل محتاطانه ټاکنه وکړه له هغه سره مرسته وکړئ چې د خپل زړه ارمان ته ورسیږي. تاسې ټول به په کورنۍ یا ګاونډ کې داسې یو څوک پیژنئ چې ولسي کیسې یا تدریسي کیسې ورته یادې وي. راځئ چې معلومه کړو ایا داسې خلک موندلی شو چې په وړوکوالي کې یې داسې کیسې اوریدلي وي او اوس یې یادولی شي یا بل وخت یې اوریدلی وي چیرې چې خلک په خپل ژوند کې هغه ټاکنې/خوښونې کوي چې ټول ژوند یې تري اغیزمنیږي.

دا ستاسې دنده ده: په خپله کورنۍ یا ګاونډ کې له خلکو وپوښتئ چې دوی ته ولسي کیسې یا تدریسي کیسې یادې دي یا نه، ورځخه وغواړئ چې د خپلې خوښې کیسه درته وکړي. څومره ښه چې یې لیکلای شئ ویې لیکئ، یا یې ښه په یاد وساتئ چې بیا یې ووایاست، او هغه کیسې له ځان سره ټولګي ته راوړئ.

۲. زده کوونکو ته اونۍ یا دوه ورځې تر څو له خلکو سره وغږیږي او وګوري چې د کورنۍ غړو یې کیسې زده دي یا نه. کله چې زده کوونکي کیسې راوړي نو تاسې ورسره ځینې دا فعالیتونه کولای شئ:

- له زده کوونکو وغواړئ چې د کیسو رسمونه رسم کړي، په ټولګي کې د رسمونو باره کې وغږیږي او بیا یې له ځان سره کور ته یوسي او هغوی ته چې کیسه یې ورته کړې ده، وښایي.
- له زده کوونکو وغواړئ چې کیسه په خپلو ټکو ولیکي او ورځخه ساده کتابونه جوړ کړي او هغوی ته چې دوی ته یې کیسه کړې ده ورکړي. (د ساده کتاب د جوړولو په اړه د لارښوونو لپاره راتلونکې پاڼه وګورئ.)
- ځینې مشران ټولګي ته راوبولئ او ورځخه هیله وکړئ چې له ټول ټولګي سره خپلې کیسې شریکې کړي.

د ساده کتاب جوړولو لارښوونې

د کاغذ څو ټوټې، ټولې یوځای، په نیمی کې کت کړئ.





د کاغذ د کت کړیو څوکو په اوږدو کې سوري جوړ کړئ. (دغه سوري باید پر ټولو پاڼو پر یوه ځای وي). د دې کار لپاره له سوري کوونکي، قیچي یا چاقو څخه کار واخلئ، که دا ممکن نه وي نو د یوځای کیدلو لپاره په لاندې ډول عمل وکوئ



ټولې پاڼې پرانیزئ، او یقیني کړئ چې ټول سوري پر یوه لیکه برابر دي. له شا لورې په سوریو کې تېروېږ تار وپېیئ او ټولې پاڼې سره وګنډئ.



د تار سرونه ښه کش کړئ او کلک یې وتړئ.



د سټپلر په وسیله د یو ځای کولو نمونه

د یوځای کیدلو بدیلې لارې:

سټپلر: له لومړي پرانو وروسته، پاڼې د کتاب په څیر کات کړئ، کات شوې څنډې دوه درې ځایه سټپلر کړئ.

سریښ: په کات شوو څنډو سریش ووهئ، پاڼې سره نږدې کړئ. ځان ډاډه کړئ، مخکې له دې چې زده کوونکي په کتابونو کار پیل کړي، سریښ بیخي وچ شوي وي.

ګنډل: د پاڼو د ګنډلو لپاره له یوې قوي ستنې او تار څخه کار واخلئ او کات شوې څنډې وګنډئ. (ستنې په خوندي ځای کې کیږدئ چې څوک په ځان خوږ نه کړي.)

تاسې او ستاسې زده کوونکي کیدای شي د کتاب د یوځای کیدلو لپاره له دې هم ښې لارې پیدا کړئ.

کولای شئ دا چارټونه بیا جوړ کړئ او د خپلو زده کوونکو د مهارتونو د انکشاف، چې تاسې یې په ټولګي کې درس ورکوئ د مسیر د ټاکلو لپاره استعمال کړئ. د هرې ورځې د فعالیت په پای کې د مهارت د سطحې د توضیح لپاره لطفاً د مهارت د انکشاف د اندازه کولو چارټ ته مراجعه وکړئ.

جادویي آس د قصې لپاره د زده کوونکو د پرمختګ ارزونه

د زده کوونکي نوم:_____

د تسلط سطح

زده شوي مهارتونه	۱	۲	۳	۴
لومړۍ ورځ: د کیسې لومړۍ لوستنه - لومړۍ برخه				
دوهمه ورځ: د کیسې دوهمه لوستنه - دوهمه برخه				
لومړۍ او دوهمه ورځ: د لغوي فعالیتونو رامنځ ته کول (لغتونو مطالعه)				
دریمه ورځ: د کیسې دوهم لوستل - مهمو مفکورو معلومول - نتیجه اخیستل				
څلورمه ورځ: د پیښو لړۍ برابرول (په قصه کې د کلیدي نظرونو منعکسول)				
څلورمه ورځ: د کلیدي مفکورې معلومول - د ټاکنو باره کې فکر				
پنځمه ورځ: د مهمو مفکورو معلومول او وربانديې لیکل - خپلې ټاکنې کول				
شپږمه ورځ: آزاده مطالعه - په لوړ غږ د کیسې لوستنه				
د ټولګي یا کور نور فعالیتونه (اوومه او اتمه ورځ)				
الف: کښنه (رسم) او نکل کول				
ب: د کیسې په اړه لیکل				
ت: په ځانګړې ادا د کیسې لوستنه				
د: د نندارې (تمثیل) په بڼه د کیسې وړاندې کول				

جادویي آس د قصې لپاره د زده کوونکو د پرمختګ ارزونه

د زده کوونکي نوم:_____

د تسلط سطح

زده شوي مهارتونه	۱	۲	۳	۴
لومړۍ ورځ: د کیسې لومړۍ لوستنه - لومړۍ برخه				
دوهمه ورځ: د کیسې دوهمه لوستنه - دوهمه برخه				
لومړۍ او دوهمه ورځ: د لغوي فعالیتونو رامنځ ته کول (لغتونو مطالعه)				
دریمه ورځ: د کیسې دوهم لوستل - مهمو مفکورو معلومول - نتیجه اخیستل				
څلورمه ورځ: د پیښو لړۍ برابرول (په قصه کې د کلیدي نظرونو منعکسول)				
څلورمه ورځ: د کلیدي مفکورې معلومول - د ټاکنو باره کې فکر				
پنځمه ورځ: د مهمو مفکورو معلومول او وربانديې لیکل - خپلې ټاکنې کول				
شپږمه ورځ: آزاده مطالعه - په لوړ غږ د کیسې لوستنه				
د ټولګي یا کور نور فعالیتونه (اوومه او اتمه ورځ)				
الف: کښنه (رسم) او نکل کول				
ب: د کیسې په اړه لیکل				
ت: په ځانګړې ادا د کیسې لوستنه				
د: د نندارې (تمثیل) په بڼه د کیسې وړاندې کول				

کولای شئ دا چارټ د خپلو ټولو زده کوونکو د مهارتونو د انکشاف، چې تاسې یې په ټولګي کې درس ورکوئ د مسیر د ټاکلو لپاره استعمال کړئ. د هرې ورځې د فعالیت په پای کې د مهارت د سطحې د توضیح لپاره لطفاً د مهارت د انکشاف د اندازه کولو چارټ ته مراجعه وکړئ.

د ټولګي د پرمختګ ارزونه

ښوونکی _____ د ټولګي شمېره/پیژندنه _____

نېټه:_____

د هوپو د کتاب عنوان: *جادویي آس*

دا _____ د هوپو کتاب ما د زده کوونکو سره استعمال کړی دی.

په ټولګي کې د زده کوونکو شمیر:_____

د هر زده کوونکي د تسلط سطح*

زده شوي مهارتونه	۱	۲	۳	۴
لومړۍ ورځ: د کیسې لومړۍ لوستنه - لومړۍ برخه				
دوهمه ورځ: د کیسې دوهمه لوستنه - دوهمه برخه				
لومړۍ او دوهمه ورځ: د لغوي فعالیتونو رامنځ ته کول (لغتونو مطالعه)				
درېیمه ورځ: د کیسې دوهم لوستل - مهمو مفکورو معلومول - نتیجه اخیستل				
څلورمه ورځ: د پېښو لړۍ برابرول (په قصه کې د کلیدي نظرونو منعکسول)				
څلورمه ورځ: د کلیدي مفکورې معلومول - د ټاکنو باره کې فکر				
پنځمه ورځ: د مهمو مفکورو معلومول او وربانديې لیکل - خپلې ټاکنې کول				
شپږمه ورځ: آزاده مطالعه - په لوړ غږ د کیسې لوستنه				
د ټولګي یا کور نور فعالیتونه (اوومه او اتمه ورځ)				
الف: کښنه (رسم) او نکل کول				
ب: د کیسې په اړه لیکل				
ت: په ځانګړې ادا د کیسې لوستنه				
د: د نندارې (تمثیل) په بڼه د کیسې وړاندې کول				

* هرې سطح ته رسیدونکي ټول زده کوونکي وشمیرئ

دا پانه د نوټ کولو له پاره ده

دا پانه د نوټ کولو له پاره ده

HOOPOE BOOKS